# د چاپیریال نړیوالې ورځې پیژندنه

## مفاهیم او موضوعات

(د چاپیریال کمیټو غړو لپاره پوهاوی لارښود)



اسلام مبین دین تل خلکو ته دا حکم کوي چي تاسو خپل ځانونه او خپل چاپیریال پاک وساتئ تر څو
د ډول ډول روغتیایی ستونزو څخه بچ شئ


**د راتلونکي نسلونو د پیاوړتیا موسسه**

**کابل افغانستان**

سنبله ۱۳۹۹

The GEF Small Grants Programme

# د چاپېريال نړيوالې ورځې پېژندنه

## مفاهيم او موضوعات

(د چاپيريال کميټو غړو لپاره پوهاوي لارښود)

**د راتلونکي نسلونو د پياوړتيا موسسه (Future Generations Empowerment)**
**کابل افغانستان**

وري ۱۳۹۹

# لیکلړ

گڼه سرلیک | مخ


1. سریزه ........................ 1
2. د تالابونو(ډنډونو) نړیواله ورځ ........................ 4
3. د رامسر کنوانسیون: ........................ 4
4. د دې ورځې د نمانځنې موخه ........................ 4
5. د تالابونو نړیواله ورځ او د اقلیم بدلون ........................ 4
6. تالابونه یعنې څه؟ ........................ 6
7. په افغانستان کې تالابونه (ډنډونه) ........................ 6
8. د چاپیریال روغتیا ورځ ........................ 10
9. د چاپیریال ساتنې نړیواله ورځ ........................ 15
10. تاریخچه ........................ 15
11. د ککړتیا تعریف ........................ 16
12. د اسلام مقدس دین کې د چاپیریال ساتنې اهمیت او ارزښت ........................ 17
13. په چاپیریال د هوا د ککړتیا اغېزې ........................ 20
14. د گلخانه یي گازونو اغېزې: ........................ 20
15. د جنگ او مسلحانه نښتو په جریان کې د چاپیریال څخه د گټې اخیستنې د مخنیوې نړیواله ورځ ........................ 22
16. د ژوند په چاپیریال باندې د جگړو او مسلحانه نښتو اغېزې ........................ 23
17. د جنگ او مسلحانه کړکیچونو په جریان کې د چاپیریال اړونده قوانین ........................ 24
18. د اوبو نړیواله ورځ ........................ 26
19. د اسلام مقدس دین کې د اوبو ارزښت ........................ 27
20. د وحشي ژویو نړیواله ورځ ........................ 34
21. د کنوانسیون موخه ........................ 34
22. د اسلام مقدس دین کې د ژویو او نباتاتو ارزښت ........................ 36
23. د افغانستان د وحشي ژویو ډولونه ........................ 39
24. په افغانستان کې د ښکار قانوني بڼه ........................ 40
25. اوزون پوړ د ساتنې نړیواله ورځ ........................ 41
26. د اوزون جوړښت ........................ 42
27. د کیگالي تعدیلات د HFCS راکمول ........................ 45
28. د ځمکې نړیواله ورځ ........................ 48
29. ځمکه ........................ 48

30. د اسلام مقدس دین کې د ځمکې اهمیت او ارزښت ........................ 50
31. روز جهانی مبارزه با اقلیم ........................ 55
32. تاریخچه ........................ 55
33. عوامل تغییر اقلیم ........................ 57
34. تنوع حیات ........................ 59
35. صحت و سلامت انسان ها: ........................ 59
36. بلند رفتن سطح آب دریاها، اقیانوس‌ها و نواحی ساحلی ........................ 60
37. کیفیت آب ........................ 60
38. تغییر اقلیم در افغانستان ........................ 62
39. تغیرات اقلیم ........................ 63
40. تاثیرات سکتوری تغییرات اقلیمی ........................ 64
41. اقدامات کاهش دهی تغییرات اقلیم ........................ 65
42. ماخذونه(REFERENCES) ........................ 66

## سریزه

انسانان او حیوانات پرچاپیریال باندې اغېزه لري او هغه ته تغیر ورکوي. د دې یو مثال دا دی چې په زرهاوو کلونه مخکې طبیعت د نن په پرتله ډېر ښه و. انسانانو ونې چپه کړې، مځکې یې اړولې، د سیندونو لوري یې اړولي دي، تعمیرونه او سړکونه یې جوړ کړي دي او داسې نور کارونه یې کړي دي چې د چاپیریال د تغیر سبب گرځیدلي دي. خو په ځینو وختو کې انسانونو نه یوازې چاپیریال ته تغیر ور کړی بلکې هغه یې خراب کړی هم دی. د دې یو مثال دا دی چې د مدیترانې د ساحل په شاو خوا کې یې ونې او ځنګلونه له منځه وړي دي او پر ځای یې نورې ونې نه دي ایښي او یا په افغانستان کې د ځنګلونو بې رحمانه قطع کول هم یو ښه مثال دی. یو بل مثال یې دا دی چې د نباتاتو د خونې د غازاتو د تولید له امله یې د مځکې د مخ ډېر پخواني یخچالونه د ویلي کېدو حالت ته دروليي دي.

د چاپیریال خبره په دې وروستیو وختونو کې ډېره توده ده. دا ځکه چې په دې ورستۍ پېړۍ کې د مځکې د کرې پر شا و خوا هوا دومره خرابه شوې ده چې دا کار به د انسانانو ژوند په راتلونکې کې د یوه لوی خطر سره مخامخ کړي. دا ټول په دې ورستۍ پېړۍ کې د ډېر ژر او زیاتو صنعتي پرمختګونو نتیجه ده. یعنې د فابریکو، الوتکو، کښتیو، د اټومي بټیو(کرو) او داسې نورو د منځ ته راتلو نتیجه ده. په چاپیریال کې اوبه - هوا او اقلیم دي چې د مختلفو سببونو له مخې ضرر ویني. دلته به ښه دا وي چې لومړی اوبه –هوا او اقلیم و پېژنو.

**اوبه او هوا:** هوا د غازانو مجموعه ده، کوم چې زموږ پر شاوخوا را ګرځېدلې ده او ژوندي موجودات یې تنفس کوي. همدارنګه اوبه او هوا دا ښکاره کوي چې د تودوخې درجه څو ده، باران اوري که نه، واوره اوري که نه، باد دی که وریځ ده او که آسمان شین دی. کېدای شي چې په مختلفو ځایو کې اوبه او هوا مختلفه وي. په تلویزیون کې هوا شناسان د یوه هېواد د مختلفو برخو د اوبو او هوا په هکله معلومات او یا پیشګویي کوي.

پر مځکه چې تر اوسه لوړ ترینه د تودوخې درجه اندازه شوې ده هغه د (1922م) کال د سیپتمبر پر 13 نېټه په لیبیا کې د سانتي ګراډ 58 درجې وه. کښته ترینه د تودوخې درجه په انتارکتیس (جنوبی قطب) کې د (1983م) کال د جولای پر 21 نېټه منفي 89 درجې د سانتي ګراډ وه. د یوې منطقې د تودوخې درجه د هغې منطقې په لوړوالي او کښته والي پورې اړه لري. په هره اندازه چې د دریاب د سطحې څخه لوړ ځو تودوخه کمېږي. د بحر د سطحې څخه د هرو 100 مترو په ارتفاع سره تودوخه 1 درجه کښته راځي.

**اقلیم:** اقلیم د یوې سیمې د اوبو او هوا په برخه کې په یوه معین وخت کې معلومات راکوي څېړونکي د یوې منطقې د اوبو او هوا په هکله لږ تر لږه د 30 کلونو په جریان کې معلومات را ټولوي کله چې یې دغه معلومات ښه مطالعه کړ نو د کال په مختلفو برخو کې د هغې منطقې د اقلیم په هکله معلومات ورکوي.

د (1900م) کال او (1936) کلونو تر منځ د څېړنو په نتیجه کې د نړۍ اقلیم پر دغه لاندنیو 5 برخو وېشل شوی دی، د دې وېش لپاره د مځکې د مختلفو برخو شینوالی، د کال منځنی اورښت او دکال د تودوخې منځنۍ درجه په نظر کې نیول شوې ده.

- اوله ساحه:

تود او باراني اقلیم هغه اقلیم دی، چې د کال په سړه ترینه میاشت کې د تودوخې درجه تر 18 درجه سانتي ګراد لوړه وي.

- دویمه ساحه

وچ اقلیم: هغه اقلیم دی چې د کال منځنی اورښت تر 250 ملي مترو لږ وي. که چېرې د اورښت اندازه تر دغې اندازې لوړه وي، خو د کال د تودوخې منځنۍ درجه دومره اوړه وي چې د اوبو تبخیر تر اورښت ډېروي.

- دریمه ساحه

مناسب تود اقلیم: په کوم کې چې هوا نم ولري د کال په سړه میاشت کې بې د تودوخې درجه د (3 درجه سانتي ګراد او 18 درجه سانتي ګراد) تر منځ وي. او د کال په توده میاشت کې بې د تودوخې منځنۍ درجه تر 10 درجه سانتي ګراد لوړه وي.

- څلورمه ساحه

مناسب سوړ اقلیم: په کوم کې چې د کال په سړه میاشت کې د تودوخې درجه تر 3- درجه سانتي ګراد کښته وي او د کال په توده میاشت کې تر 10 درجه سانتي ګراد لوړه وي.

- پنځمه ساحه

قطبي اقلیم: په کوم کې چې د کال په توده میاشت کې د تودوخې منځنۍ درجه تر 10 درجه سانتي ګراد کښته وي. اوس څېړونکی پدې پوهیدلي دي چې د مځکې د تودوخې اوسط (منځنی) درجه لوړه تللې ده. څېړونکی په دې سره موافق دي چې د تودوخې درجه نوره هم مخ پر لوړیدو ده، مګر ټول په دې نه دي موافق چې سبب بې څه شی دی. څوک وایي چې د تودخي د درجې پورته تلل د نورو وختونو په ډول یو طبیعي کار دی. خو زیاتره بیا په دې عقیده دي چې دا ټول زموږ انسانانو د بې پروایۍ نتیجه ده چې د اتموسفیر د تودوخې درجه لوړېږي.

الله تعالی په خپل کلام کې هم د ځمکې، اسمانونو، اوبو، سیندونو، غرونو، بادونو او نورو ذکر کړی دی، فرمایي:

ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلْفُلْكَ لِتَجْرِىَ فِى ٱلْبَحْرِ بِأَمْرِهِۦ ۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلْأَنْهَـٰرَ ﴿٣٢﴾ (د ابراهیم سورت: ۳۲ ایت)

ژباړه: الله هغه ذات دی چې اسمانونه او ځمکه يې پيدا کړي دي او له بره نه يې اوبه نازلې کړې دي، پس په هغو سره يې له مېوو نه ستاسو لپاره رزق راويستلی دی او تاسو لپاره يې بېړۍ مُسَخَرې کړې دي، د دې لپاره چې هغه (بېړۍ) د هغه په حکم سره په سمندر کې روانې وي او تاسو لپاره يې نهرونه مسخر کړي دي.

وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ دَآئِبَيْنِ ۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ ﴿٣٣﴾ (ابراهيم سورت: ۳۳ ايت)

ژباړه: او تاسو لپاره يې لمر او سپوږمۍ په کار لګولي دي، په داسې حال کې چې د قانون مطابق ګرځي او تاسو لپاره يې شپه او ورځ په کار لګولي دي.

وَءَاتَىٰكُم مِّن كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ ۚ وَإِن تَعُدُّوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ لَا تُحْصُوهَآ ۗ إِنَّ ٱلْإِنسَـٰنَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ ﴿٣٤﴾

ژباړه: او تاسو ته يې له هغو څيزونو نه چې تاسو هغه غوښتي، څينې درکړي دي او که تاسو د الله نعمتونه وشمېرئ (نو) تاسو به هغه ونشمېرلی شئ، بېشکه انسان خامخا ډېر ظلم کوونکی، ډېر ناشکره دی.



# د تالابونو(ډنډونو) نړیواله ورځ

**تاریخچه**

دا ورځ هر کال د فبرورۍ د میاشتې په دوهمه نېټه د (۱۹۷۱م) کال د رامسر کنوانسیون په رڼا کې نمانځل کېږي. دا ورځ په کال (۱۹۹۷م) کې د چاپیریال د یوې مهمې ورځې د یوې برخې په نوم ونمانځل شوه او بیا یې ورو ورو په ډېرو نورو هېوادونو کې په ملي کچه نمانځنه پیل شوه، دا ورځ وروسته د رامسر په مرسته په کال (۲۰۱۰م) کې په نړیواله کچه ونمانځل شوه او یو راپور یې د ۹۵ هېوادونو د ګډ کنوانسیون رهبرۍ ته وړاندې کړ.

د رامسر د کنوانسیون غړي هېوادونه ۱۲۸ ته رسېږي، همدارنګه آسترالیا لومړنی هېواد وه چې په کال (۱۹۷۴م) کې د دغه کنوانسیون کوربه هېواد و.

**د رامسر کنوانسیون:** د رامسر کنوانسیون په کال (۱۹۷۱م) کې د اسکندر پیروز په نوم د ایران دولت د هغه وخت د محیط زیست او چاپیریال ساتنې د اداري ریس لخوا د ایران په رامسر ښار کې دایر شو او هدف یې دا وه چې د تالابونو(ډنډونو) ساتنه وشي او همدارنګه هغه شیان چه په تالابونو(ډنډونو) پورې اړه لري لکه: حیوانات، نباتات، مرغۍ او الوتونکي باید د هغوی یقینې ساتنه هم وشي.

**د دې ورځې د نمانځنې موخه**: په عمومي توګه د دې ورځې نمانځنه په دې موخه تر سره کېږي چې د چاپیریال ساتنې او پرمختیا ته وده ورکړل شي او د طبیعي منابعو(زېرمو) څخه دوامداره او مناسبه استفاده وشي، ځکه چې تالابونه (ډنډونه) نه تنها د مختلفو ډولونو الوتونکو د اوسېدنې ځای دی، بلکې د دې تر څنګ د میلیونونو وګړو د معیشیت د پایدارۍ او ژوند کولو لپاره ډېر ارزښت لري.

**د دې ورځې د نمانځنې طریقې**: دا ورځ په اکثرو هغو هېوادونه کې چې د رامسر د کنوانسیون غړي دي په ځانګړو مراسمو کې لکه د رسنیو، مارشونو، نمایشونو او کانفرانسونو په بڼه نمانځل کېږي، چې د هر کال لپاره ځانګړي شعارونه لري او همدا ډول هر کال د فبرورۍ د میاشتې په دویمه(۲) نېټه نمانځل کېږي. د دې لپاره چې د وګړو پوهاوی د تالابونو (ډنډونو) د ارزښت په اړوند لوړ شي یعنې خلک په دې پوه شي چه تالابونه د بشریت او بالاخره ټولې نړۍ ته څه ګټه لري؟ د بېلګې په توګه د (۲۰۱۸م) کال تالابونو(ډنډونو) ورځ د (پایداره نیمه ښاري راتلوونکې) تر عنوان لاندې ونمانځل شوه، د دې مفهوم دا وه چې څنګه وکړای شو تر څو نږدې پراته تالابونه راتلونکې کې د ښارونو د پایدارۍ سره مرسته وکړي.

**د تالابونو نړیواله ورځ او د اقلیم بدلون**: لکه څنګه چې یې مخکې یادونه وشوه چې دا ورځ په نړیواله کچه د مختلفو شعارونو په بڼه نمانځل کېږي او په (۲۰۱۹) کال کې د ( تالابونو نړیواله ورځ او د اقلیم بدلون) نوم او شعار لاندې ونمانځل شوه.

د اقلیم د بدلون تر ټولو بده اغېزه داده، چې د بشر روغتیا او سلامتي یې د خطر سره مخ کړې ده، د نړۍ په کچه د دې بدو اغېزو اسباب او لاملونه په لاندې ډول په ګوته شوي دي.

## تالابونه یعنې څه؟

(د اوبو ډنډونه او ذخیرې) دا په دوه ډوله دي، پرانیستي(نا محدوده) تالابونه او بند یا تړلي تالابونه.

### 1. پرانیستي یا نا محدوده تالابونه

هغو تالابونو ته ویل کېږي چې د ګرداو په شکل ، طبیعي یا مصنوعي شکل ، دایمي وي که موقت، ساکن وي که روان، خواږه وي که تروش چې د اوبو ژوروالی د ۲ مترو نه زیات نه وي. کېدای شي سخره یې وي او که د وابنو یا ختېین ځنګلونو، مردابونو یا دریاچو څخه تشکیل شوي وي.

### 2. بند یا تړلي تالابونه

دا ساحه د اکوتون څخه عبارت ده یعنې هغه سیمه چې د اوبو ژوروالي یې د خاورو سطحه تشکیله کړې وي او هم د خاصو بوټو د شینوالی سبب ګرځېدلي وي.

د نړۍ په ګوټ ګوټ کې دا اوبو ډنډونه یا تالابونه شته چې په رنګا رنګ جغرا فیایي شکلونو لیدل کېږي په ډېرو هېوادونو کې هغوی ته زیاته پاملرنه نده شوې کېدای شي چې د دوی د ناپوهی له وجهې وي ځکه چې له ارزښت نه یې بې خبره وي او یا د دولتونو د نه پاملرنې په وجه؛ د امازون د اوبو ډنډ چې ځنګل یې تشکیل کړی، د سایبیریا ډنډ او پنتا نال جهیل د نړۍ لوی او مشهور ډنډونه دي چې د دې جملې نه د پنتا نال ډنډ چې برازیل کې پروت دی د ټولو څخه لوی تالاب (ډنډ) دی.

## په افغانستان کې تالابونه (ډنډونه)

د نورو هېوادونو په شان په افغانستان کې هم واړه او لوی ډنډونه شته، خو څنګه چې باید ورته پاملرنه شوې وای دلته هم نه ده شوې، دا ځکه چې خلک د دوی د شتون په موثریت او ارزښت نه پوهېدل. که څه هم د انقلاب څخه مخکې د چاپیریال ساتنې او د ډنډونو د ارزښت لوړولو لپاره د هغه وخت دولت ګامونه پورته کړي وه، ولې د انقلاب په راتګ سره دغه هڅې له منځه لاړې، په داسې حال کې چې د چاپیریال ساتنې اړوند اداري شته او غیر دولتي موسسو هم په دې برخه کې کارونه کړیدي خو د دغو هلو ځلو دقیق ارقام او معلومات په واقعي توګه په لاس نه شي راتلای، په دې برخه کې ډېر معلومات په شفاهي توګه د کلیوالو او یا اړوند دفترو له خوا ورکول کېږي، چې دا یوه لویه ستونزه ګڼل کېږي.

که موږ د هېواد تاریخي پس منظر ته وګورو نو د تېرو څو لسیزو جګړو په ترڅ کې د دې هېواد هر اړخ یا زیانمن شوی او یا په ټوله کې ویجاړ شوی دی؛ نو په لنډه توګه ویلای شو چې د هېواد طبیعي زېرمې ډېرې زیاتې ویجاړې او اکثره یې له منځه تللي دي؛ تالابونه هم د طبیعي زېرمو د یوې مهمې برخې په ډول په افغانستان کې زیامن شوي دي.

افغانستان په وچه کې را ایسار هېواد دی، دې هېواد کې سیندونه، تالابونه جوړوي نو دغه سیندونه لکه د آموسیند ، هلمند ، ارغنداب ، ګردیز ، غزني ، مهارا او نور یې د اړوندو غرونو د واورې او یا باران د اوبو

څخه سرچینه اخلي. په افغانستان کې واړه او لوی تالابونه شته چې شمار یې ۲۱ ته رسېږي چې د تالابونو د بیولوژیکي تنوع لپاره ډېر ارزښت لري او د مهاجرو مرغیو، ماهیانو او نورو ژوو تم ځای دی، د نباتاتو او ذوحیاتین د اوسېدو د ځای امکانات برابروي.

تالابونه (ډنډونه) د افغانستان په ۱۷ ولایتونو کې شتون لري لکه: هامون صابري، ارغنداب ذخیره، کجکي، بند سرده، قرغې بند، درونټې جهیل، سروبي جهیل، نغلو جهیل درقد، امام صاحب، داګی تندی، کول نمکسار، ګود زره، زرکول، چقمقتین، آی خانم او وغنان.

**دافغانستان مشهور تالابونه**

لکه چې مخکې یې یادونه شوې چې په افغانستان کې هم ډېر واړه او لوی تالابونه په مختلفو ولایتونو کې شتون لري خو مهم او مشهور یې دا دي: آب ایستاده، دشت نا ور، بند امیر، کول حشمت خان او دهامون پوزک تالاب او داسې نور چې په زرګونو ډول ډول مرغی په نړیواله کچه ترې استفاده کوي او د نړیوالو سیلانیانو لپاره په زړه پورې منظرې لري، نو ځکه دغو ډنډونو ته یې نړیوال شهرت ورکړئ دی.

۱- د امیر بند (بند امیر)

۲- دشت ناور جهیل (د اوبو ولاړ ډنډ)

۳- کول حشمت خان (جهیل)

۴- دهامون تا لاب

۵- آب ایستاده (ولاړې اوبه)





د هېواد د ټولو طبیعي منابعو(زېرمو ) او ډنډونو په شمول او د هغوی اړوند چاپیریال څخه په سمه توګه سره مدیریت او ساتنه نه کېدله ؛ البته په اوسني وخت کې په افغانستان کې د چاپیریال ساتنې ملي اداري لخوا د چاپیریالي ساحاتو د ساتنې لپاره د یو ملي پروګرام سیستم را منځ ته شوی دی، چې د دې سیستم په پلي کېدو سره به د طبیعي زېرمو د ساتنې متوازن، هر اړخیزه او دوامداره پرمختګ رامنځ ته شي چې دا به د تالابونو په شمول د ټولو ساتل شوو طبیعي زېرمو لپاره یو ښه چانس برابر کړي.

د افغانستان تالابونه د استوګنې له لید لوري د دریو مهمو ډولونو څخه تشکیل شوي دي: سیندونه ، جبه زارونه ، او د انسانانو په لاس جوړې شوې د اوبو ذخیرې یا ډیمونه. په ټوله کې په افغانستان کې په مختلفو استوګن ځایونو کې ۱۱۹ ډوله حیوانات، ۴۰۰ ډوله مرغۍ، ۴۰۰۰ ډوله ریښه یي نباتات او دوه ډوله ذوحیاتین موجود دي.

**د تالابونو (ډنډونو) ارزښت:** څرنګه چې افغانستان په وچه کې ایسار یو هېواد دی نو د داسې اوبه لرونکو ځایونو شتون د هوا له لید لوري ډېر زیات ارزښت لري؛ د دې هېواد ډېری سیندونه، اوبه یې ځایه له لاسه ورکوي او وچکالۍ یې زغمل کېږي.

تالابونه یا ډنډونه ولې خوندي وساتل شي؟

دا کار د دې لپاره اړین دی ترڅو د اوبو کیفیت ښه شي، د کبانو او د وحشي ژوو ژوند تامین شي. همدارنګه تالابونه د سیلابونو اوبه ذخیره کوي او وچو موسمونو کې د اوبو جریان د ځمکې په سطحه ساتي، چې دا د ډنډونو د خصوصیتونو څخه یو ښه خصوصیت دی. د دې لپاره چې څنګه و کولای شو ډنډونه په ښه شکل وساتو؟ نو اړینه ده چې دالاندې مهمې نقطې په پام کې ونیسو او پلي یې کړو.

مونږ ټول باید د خپل وس او توان په اندازه خپل مسؤلیت په دې اړه سرته ورسوو ترڅو زمونږ د اقلیم د حالت ښه ساتنه وشي. په هغو پروګرامونو کې ګډون وکړو کوم چې د ډنډونو د ساتنې او بیا رغونې سره مرسته کوي. ناپاکي او ګند ټول کړئ او په یو مناسب او محفوظ ظرف کې یې واچوئ او مناسب ځای ته یې انتقال کړئ. په محل کې ونې او نیالګي کښینوئ یعنې ساحه مو تل شنه کړئ.

په افغانستان کې د ډنډونو ساتنه او حفاظت په تېرو وختونو کې:

د افغانستان ډنډونو په کال(۱۹۲۰ م) کې نړیواله پاملرنه ځانته را وګرځوله چې د دې ارزښت په اساس د آب ایستاده او دشت ناور د رامسر په نړیواله کنفرانس کې په رسمیت وپېژندل شول په دې کنفرانس کې د رامسر کنوانسیون د تالابونو اخري متن تصویب شو. د دې کنفرانس په تعقیب سره د افغانستان د وحش اداري ملي پارک په کال(۱۹۷۳م) کال بند امیر د یو ملي پارک په نوم اعلان کړ او آب ایستاده او دشت ناور یې په (واټرفول او فلمینګو سنکچوارۍ) ونومول.

په افغانستان کې د تالابونو یا ډنډونو د ساتنې ستونزې:

د ډنډونو ساتنه باید د هغوی د ټولو ستونزو په نظر کې نیولو سره وشي. د ډنډونو د نه ساتنې عوامل ډېر دي خو دلته هغه مهم یې په ګوته کېږي لکه: د دوی د ارزښت څخه د خلکو بې خبري، بې نظمه توریزم او په یادو سیمو د زور واکانو تسلط، د داینمتیونه او غیر اصولي دامونو نه استفاده او د دې سیمو د اوسیندونکو بې اندازې غربت هغه مهم عوامل دي چې د دغو ډنډونو څخه سمه ساتنه نه کېږي. که څه هم د انقلاب څخه مخکې د چاپیریال ساتنې او د ټالابونو (ډنډونو) د ارزښت لوړولو لپاره د هغه وخت دولت ګامونه پورته کړي و، ولې د انقلاب په راتګ سره دغه هڅې له منځه لاړې؛ که څه هم د محیط اړوند اداري شته او غیر دولتي موسسو هم په دې اړوند کارونه کړي خو د دغو هلو ځلو دقیق ارقام په واقعي توګه په لاس نه شي راتلی، ډېر معلومات په دې اړوند په شفاهي توګه د کلیوالو یا اړوند دفترو له خوا ورکول کېږي.

**د څېړنې پایلې، وړاندیزونه او سپارښتې:**

په تېرو کلونو کې واورې او بارانونه زیات کېدل نو دې ډنډونو به کافي اندازه اوبه درلودلې؛ همدا دلیل وو چې په پایله کې کول حشمت خان او دشت ناورپه (۲۰۰۲) او (۲۰۰۳م) کلونو کې بیا ځلي اوبه پیدا کړې د دې تر څنګ آب ایستاده هم بیا ډېر ښه شو، د افغانستان د چاپیریال ساتنې اداري پراختیا وموندله ولې د وچکالۍ په راتګ سره نه تنها دا ډنډونه بلکه نور هم ډېر زیات زیامن شول.

نو د افغانستان دولت د اوسنیو شرایطو په نظر کې نیولو سره باید د دې ځایونو د بیا ځلي ډېزاین په اړوند ځیر شي، تر څو د دغو ډنډونو د ساتنې لپاره ښه او د پلي کېدو وړ پلانونه طرح او پیاده کړي او د وچکالۍ او انقلاب د تجربو په نظر کې نیولو سره قدم پورته کړي، تر څو د دغه ځایونو څخه ساتنه وشي؛ که دا پلان جوړېږي نو دا به هلته ګټور ثابت شي که چېرې دې لاندې مقاصدو ته په پلان کې ځای ورکړل شي.

**د تالابونو د ساتنې د پام وړ نقطې**

- د ساتنې او څارنې د جوړښتونو سیستم د کلیوالو په همکارۍ او ګډون سره رامینځ ته شي چې د ډنډونو ساتنې ته وده ورکړل شي. د ګرځنده مرغیو ساتنې ته وده ورکول کومې چې نوموړو تالابونو ته د نسل اخیستنې، خوړو، استراحت او مستۍ لپاره راځي.
- د دغو تالابونو د ضرورت وړ ترمیمات تر سره کول لکه اوبه او نور ملحقات یې.
- د تالابونو په خوا کې د اوسېدونکو خلکو تشویقول ترڅو د ډنډونو د ساتنې او د دوی د څېړنیزو پروګرامونو د پلي کېدو په برخه کې د هغوی مرسته تر لاسه شي.
- د ګاونډي هېواد تر منځ په دې اړه مشترکو همکاریو ته وده ورکول کوم چې د مهاجرو مرغیو لپاره ارزښتمند ګڼل کېږي.
- د مختلفو لارو چارو په واسطه د تالابونو د ارزښت په اړه د خلکو د عامه پوهاوي د کچې د لوړولو سیستمونو ته وده ورکول.

# د چاپیریال روغتیا ورځ

## عمومي معلومات او تاریخچه

چاپیریال ساتنه د ټولو هغو عواملو کنټرول دی چي د انسان پر روغتیا منفي اغېزه لري. په دې کې ډېرې ناروغۍ شاملې دي چې د اوبو، هوا، خوړو او ډېری نورو چاپیریالي لاملونه له لارې د انسان روغتیا ګواښوي او همدارنګه د چاپیریال ساتنه د ټولو هغه عواملو چې د انسانانو روغتیا ته ګواښ دی او د دې ناوړه لاملونو د مخنیوي لارې چارې څېړي.

د امریکا د متحده ایالاتو د چاپیریال ساتنې د ادارې په وینا، د کور دننه هوا د بیرون د هوا په پرتله په اوسط ډول له ۲ تر ۵ ځله ککړه ده؛ د سپتامبر ۲۶ د چاپیریال د ساتنې د ورځې د نمانځلو د موخې لپاره ټاکل شوې ده، ښه ژوند کول او یا د ښه ژوند کولو لپاره د پاک چاپیریال برابرول د هر انسان هیله ده. د نړۍ چاپیریال روغتیا ورځ نمانځنه په کال (۲۰۱۱م) کې د چاپیریال روغتیا نړیوال فیدراسیون له خوا په اندونیزیا، ډهلي، بالي کې د چاپیریال روغتیا ځوانانو غونډې د جوړیدو په ترځ کې پیل شوه او دا ورځ هر کال د سپتمبر په ۲۶ مه د چاپیریال روغتیا نړیوال فیدراسیون یا چې د چاپیریال د روغتیا په اړه د بېلابېلو مسایلو په اړه پوهاوي ته د ودې ورکولو په موخه نمانځل کېږي.

د چاپیریال روغتیا ساتنې نړیوال فیدراسیون د نورو ټولو هغو سازمانونه سره چې د ورته موخې لپاره کار کوي اوږه په اوږه د یو ګډ نړیوال پلیت فارم په چمتو کولو کې مرسته کوي تر څو د چاپیریال روغتیا ارزښت وهڅوي؛ نوموړی فیدراسیون د ۳۲ کلو را په دېخوا د روغتیا په ډګر کې په دې موخه چې تر څو هغه ټولو ستونزو ته چې د انسانانو روغتیا ته ګواښ دی د چاپیریالي مطالعې کچې ته وده ورکړي؛ کار کوي.

**د چاپیریال روغتیا (ساتنې) ورځې ارزښت :**

د نړیوال روغتیا سازمان (ډبلیو ایچ او) مطالعاتو په وینا، د اقلیم بدلون یو له خورا مهمو ستونزو څخه دی چې په اوبو، خوړو او هوا باندې مستقیم تاثیر لري، د هوا بدلون د انسان روغتیا او همدارنګه روغتیایي سیستمونو ته خطر زیاتوي؛ حفظ الصحي ته نه پام، د شنو خونو ګازونو او د ترانسپورت زیاتوالی هغه لاملونه دي چې د چاپیریال د ککړتیا سبب کېږي نو د دې هر ګواښ د مخنیوې په موخه د هر انسان دنده ده چې د خپل چاپیریال په ساتنه کې کوښښ وکړي؛ د چاپیریال روغتیا ورځ هر کال د لاندې موخو لپاره نمانځل کېږي:

- د ناروغیو څخه د مخنیوي او د چاپیریالي روغتیا ګواښونو د راکمولو ته د عامو خلکو د پوهاوي د کچې لوړول.
- د اقلیم بدلون، د شنو خونو اغېزې، د هوا ککړتیا او داسې نور هغه ستونزې دي چې د چاپیریال کیفیت (اوبه، هوا، خواړه) چې د انسانانو د بقا لپاره اړین دي زیانمنوي.
- د عامو خلکو لپاره د مختلفو دولتي او خصوصي سازمانونو لخوا چې د خواړو د خوندیتوب، حفظ الصحي، د څښاک پاکو اوبو د کیفیت د ښه کولو په موخه کار کوي د معلوماتو چمتو کول او د سازمانونو او د نورو ټولو ادارو د همکاریو د هڅولو په موخه.

### د نړۍ چاپیریال روغتیا ورځ شعارونه

د چاپیریال روغتیا نړیواله ورځ هر کال په مختلفو موضوعاتو کې نمانځل کېږي ، لکه د نړۍ چاپیریال روغتیا سږ کال (۲۰۱۹) ورځې موضوع "د اقلیم د بدلون ننګوني، د چاپیریال ساتنې لپاره یو ځای کار کول" ټاکل شوي او همدارنګه د هر کال لپاره بېلا بېل شعارونه د همغه وخت د ننګونو په اساس ټاکل کېږي؛ د بېلګې په توګه دا لاندې شعارونه د هر کال لپاره ټاکل شوي دي:

| کال | شعار (موضوع) |
|---|---|
| ۲۰۱۲ | د راتلونکي لپاره جوړول. |
| ۲۰۱۳ | د چاپیریال د ننګونو څخه خلاصون. |
| ۲۰۱۴ | د چاپیریال د روغتیا نابرابرۍ په ګوته کول. |
| ۲۰۱۵ | ماشومان زموږ راتلونکي دي راځئ چې د دوی چاپیریال او روغتیا ساتنه وکړو. |
| ۲۰۱۶ | د تنباکو کنټرول - د تنباکو نړیوال ناروغۍ ته ځواب. |
| ۲۰۱۷ | د کور دننه او بهر هوا کیفیت. |
| ۲۰۱۸ | د خوړو نړیوال خوندیتوب او پایښت. |

### د چاپیریال روغتیا نړیوالې ورځې فعالیتونه :

د چاپیریال روغتیا نړیوال فیدراسیون د نورو ملي سازمانونو په همکارۍ، د نړۍ چاپیریال روغتیا ورځ نمانځلو لپاره په نړیواله کچه بېلابېلې پیښې تنظیموي چې د عامو خلکو د تعلیم، روغتیایي څارنې او پوهاوي لپاره تنظیم شوي. د احتمالي اقداماتو او د چاپیریالي ستونزو د کنټرول لپاره په پوهنتونو او ښوونځیو کې د غونډو او ورکشاپونو دایرول او د زده کوونکو د روزنې او د هڅوی د ښوونځي فعالیتونه لکه د تخم کښت، د چاپیریال روغتیا نړیوالې ورځې موضوع باندې وینا او نور فعالیتونه ترسره کېږي.

### د چاپیریال ساتنې اهمیت د اسلام او ساینس له نظره :

د چاپیریال ساتنه د هر چا اخلاقي او دیني وجیبه ده؛ د اسلام مقدس دین د چاپیریال په پاک ساتنه، د ژوندانه د وسایلو د خوندي کولو او نه ویجاړولو او همدا راز د بیا رغولو ، آبادولو او دوامداره پراختیا په اړه حکم کوي. د طبیعي زېرمو د ساتنې او د دوی د ابادولو ترمنځ دغه لاس وهنه د کرنې ، نیالګیو کېنولو او آبادۍ له لارې، د شاړې ځمکې د آبادولو او پالنې (روزنې) په نظریه کې تر سترګو کېږي.

چاپیریال د الله تعالی مخلوق دی؛ د ځمکې او ټولو طبیعي منابعو جوړښت د الله تعالی د حکمت، رحمت او قدرت ښکارندوی دي ، ځکه نو د انسان د علمیت (د الله تعالی په اړه) د پراخولو لپاره ګټور بلل کېږي او باید وساتل شي. (الرعد سورت).

بل دلیل چې اسلام ولې غواړي چاپیریال وساتل شي داده چې اسلام د ژوندانه د نظام په توګه د خیر رسولو په اساس بناء شوی دی. ځکه نو اسلام باید له چاپیریال نه حفاظت وکړي ځکه چې د چاپیریال ساتل خو د خیر کار دی. الله تعالی فرمایي:

ژباړه: هغه څوک چې عمل کوي د یوې ذرې د خیر؛ نو وبهویني (اجر د هغه) او هر هغه څوک چې عمل کوي په اندازه د یوې ذرې د شر نو وبه ویني (سزا د هغه) (الزلزال سورت ۷:۸).

په اسلام کې ځکه انسان د چاپیریال د ساتلو لپاره ګمارل شوی دی چې بل هیڅ مخلوق د دې کار توان نه لري. انسان یوازینی مخلوق دی چې الله تعالی د ځمکې د مسؤل په توګه پیدا کړی دی؛ دا مسؤلیت د اسلام له نظره ډېر سنګین او ستر مسؤلیت دی چې غیر له انسان نه یې بل هیڅ مخلوق قبلولی هم نشو. الله تعالی فرمایي:

ژباړه: بیشکه موږ امانت (ثواب- عقاب) پر آسمانونو او پر ځمکه او غرونه (کله چې مو پیدا کړ په دوی کې فهم او نطق) نو منع راوړه دوی له دې چې پورته کړي هغه د (امانت بار) او ووېرېدل دوی له هغه (امانت) او پورته کړ هغه (امانت بار) انسان بیشکه چې دغه (انسان) ډېر ظالم دی او نادان (په خپل عاقبت). (الاحزاب سورت. ۷۲ ایت).

په هوا کې د اکسیجن اندازه (۲۱٪) ده، که تر دغه ډېره شي ځمکه کېدای شي د یوې کوچنۍ لمبې څخه و سوځي او که تر دې لږ شي، ټول ژوندي مخلوقات به ځیني مړه شي؛ همدا رنګه د کاربن ګاز په هوا کې تر (۱٪) لږ دی، که چېرې تر دې ډېر شي انسانان به ځیني مړه شي او که لږ شي نباتات به ځیني مړه شي، نو د دې له پاره چې دا سیستم داسې منظم روان وي الله (ج) د ونې د بلګ په شکل داسې فیلټر جوړ کړی دی، چې ککړه هوا په پاکه هوا بدلوي یعنې ونه ککړه هوا (کاربن ډای اکسایډ) جذبوي او پاکه هوا (اکسیجن) اخراجوي. که په ځمکه کې په کافي اندازه ونې نه وي، چې ټوله کاربن ډای اکساید جذب کړي، نو کاربن ډای اکساید په هوا کې پاتې کېږي او ورځ تر بلې ډېرېږي؛ ځکه هره ورځ نوي نوي کاربن ډای اکسایډونه تولیدېږي، چې د هوا د ککړتیا سبب ګرځي، نو کله چې هوا ککړه وي د لمر وړانګې ځمکې ته په سمه توګه نه شي را رسېدای، چې اکسیجن جوړ کړي؛ ځکه نباتات د (فوتوسنتیسیز) د عملیې په ذریعه د لمر د وړانګو څخه اکسیجن تولیدوي، چې په نتیجه کې ټول هغه حیوانان او نباتات له منځه ځي چې د ګرمۍ او ککړې هوا سره حساسیت لري. همداسې د اوبو سطحه لوړېږي، ځکه واورې او یخچالونه چې کلونه کلونه په یخو سیمو کې یخې پاته وه ویلې کېږي؛ بې موسمه بارانونه او واورې ورېږي، چې د کرنې (زراعت) له پاره ډېر مضر تمامېږي او د سمندرونو او بهرونو اوبه تروې کېږي، چې په نتیجه کې خوږې اوبه کمېږي او داسې نور ډېر بد عواقب له ځان سره لري.

د دې لپاره چې دا فلتر د ځمکې چاپېریال او هوا پاکه وساتي، الله (ج) د ځمکې پر مخ دومره اندازه ونې را شنې کړې وې، چې د ځمکې د مخ د ټول کاربن ډای اکساید د جذبولو له پاره کافي وې، یعنې یوازې د ځمکې مخ (۳۰٪) ځنګلونو نیولې ده، خو دا فیصدي ورځ تر بلې کمېږي؛ ځکه یو څو محدود انسانان یې د خپلو شخصي ګټو له پاره هر کال تقریباً (۲۰) زره کېلومتره مربع (تقریباً د افغانستان د مساحت په اندازه) ځنګلونه له منځه وړي، چې هر کال د (۰.۱۸٪) څخه تر (۰.۲۲٪) پورې ځنګلونه کمېږي. څومره ونې چې د ځنګلونو څخه رېبل کېږي، د هغه په اندازه ونې باید وکرل شي، تر څو دغه ضایع تر یو حده را وګرځوي، کنه په لږ وخت کې به انسانان د غذا او اوبو د نشت سره مخامخ شي او د ځمکې پر مخ ژوند کول به نا ممکن شي؛ په اسلام کې دغه ټولې ستونزې په نظر کې نیول شوي دي او د حل لارې یې ورته برابرې کړې دي؛ د بېلګې په ډول:

رسول الله (ص) فرمايي: (که چېرې قيامت پېښېدای او ستاسو د يوه په لاس کې يو نيالګی وو، نو که چېرې ستاسې طاقت وي، چې قيامت قايم نه شي، تر څو تاسې دغه نيالګی کښېنوئ، نو تاسې دغه نيالګی کښېنوئ)، (الجامع الصحيح للسنن والمسانيد).

اسلام عام خلک دې ته هڅوي چې کرنې ته وده ورکړي ځکه کرنه ده چې په چاپېريال ساتنه کې لويه ونډه لري او هغو خلکوته چې په کرنه کې برخه اخلي زيات امتيازات ورکړي دي؛ د بېلګې په ډول (رسول الله (ص) فرمايلي دي: (کوم کس چې يوه ځمکه اباده کړه او هغه د چا حق نه وه نو دغه کس دهمدې ځمکې حقدار دی).(صحيح البخاري).

(حضرت محمد (ص) عليه وسلم به يهودو ته ځمکې ورکولې چې کښت پکې وکري او دوی ته به يې د حاصل نيمايي برخه هم ځينې ورکوله.( مختصر صحيح البخاري).

د دې پورتني حديث څخه معلومېږي (حضرت محمد (ص) عليه وسلم تر انسانانو ، دين او مذهب چاپيريال ساتنې ته ډېر اهميت ورکوي.

وايي (ښار زموږ ټولو شريک کور دی) لکه څنګه چې د خپل کور د پاک ساتلو خيال ساتو بايد د خپل ښار په پاک ساتنې هم پوره پاملرنه وکړو؛ يو ښار ډېر وړوکی وي که چېرته د هر سيمې اوسيدونکي خځلې او ګندونه په خپل ټاکلي ځای کې واچوي او خپلو لويو او وړو ته د چاپيريال د اهميت او ارزښت په اړه ووايي نو په ډېره کمه موده کې به دا ښار يو پاک او د سالم چاپيريال خاوند واوسي. موږ هر وخت وايو چې (( هره ورځ د چاپېريال ساتنې ورځ ده.)) نو موږ او تاسو هم بايد د چاپيريال ساتنې ادارې او نورو مسؤلو ادارو سره يو ځای د خپل ښار د پاکولو په برخه کې مرسته وکړو. لږ تر لږه که هر سړی د خپل کور مخه پاکه وساتي فکر نه کوئ چې ټوله کوڅه او بيا همداسې ټول ښار به پاک ساتل شوی وي باور لرم چې په ډېر کم وخت کې به د ښار اړونده ټولې کوڅې او سرکونه له کثافاتو پاکې شي.

**د کورونو د ننه د هوا ککړتيا لاملونه**

د امريکا د متحده ايالاتو د چاپيريال ساتنې د ادارې په وينا، د کور دننه هوا د بيرون د هوا په پرتله په اوسط ډول له ۲ تر **۵** ځله ککړه ده؛ د دې ککړتيا عمده او مهم لاملونه د کېمياوي ککړونکي مواد چې د کور د ننه د بخاريو، ګازونو استعمال، سګرټو لوګی او نورو څخه را منځ ته کېږي؛ دي. نوموړې ککړتيا د بېلابېلو ناروغيو لکه سر دردي، د زړه بدوالی (قی)، د سترګو خارش او دوامداره ټوخي لامل کېدای شي؛ د کور د ننه د هوا د پاک ساتلو لپاره لاندې لارې چارې بايد په نظر کې ونيول شي:

**د کورونو د ننه د هوا ککړتیا د مخنیوې لارې چارې**

- د هوا د ککړتیاو د اغېزې کمولو تر ټولو مهمه لار په دوامداره توګه د کور کړکۍ خلاصول.
- د کور د ننه د هغه رنګونو استعمالول چې په خپل جوړښت کې تیل و نه لري ، د بېلګې په ډول پلاستیکي رنګونه کوم چې د اوبو سره ګډېدای شي، او په داسې حال کې چې تیلو رنګونو سره تینر ګډ شوي دي.
- د بورس په واسطه رنګ کول د سپرې سره د رنګ کولو څخه غوره دی؛ ځکه چې د سپرې ماشین او یا وسیله هوا ته ډیر رنګ خپروي.
- د نقاشۍ وروسته، دروازې او کړکۍ باید په بشپړه توګه خلاصه وي ترڅو رنګ ګړندي وچېدو ته اجازه ورکړي او په کور کې هوا په بشپړ ډول صافه کړي.
- د اوسیدنې په ځای کې د سون توکو ذخېره او د تیلو ساتلو څخه ډډه کول.
- د اوسېدو د خونې د ننه یو یا دوه ګلانو ، بوټو یا نیالګو کنیول کولای شي د خونې هوا تازه وساتي؛ په اطاق کې د ګلانو او بوټو ساتلو په وخت کې باید خوندیتوب او روغتیا ته پام وشي. د بېلګې په ډول، ځینې نباتات زهرجن دي نو دا بوټي باید د ماشومانو د لاسرسي څخه لرې و ساتل شي.
- ځینې وختونه ، د ګلدانونو خاورې او اوبه کولای شي د فنګسونو په رامنځ ته کېدو سره په کور کې د ککړتیا لامل شي.
- د خوب خونې توکي لکه برستنې، توشکې ، دوړې او ګردونه په اسانه ډول جذب کولای شي، ګرد او دوړې دواړه د الرجي یا حساسیت سبب ګرځي؛ نو باید برستنې او توشکې په منظم ډول و وینځل شي.
- د اوسېدو خونه باید هر ځل په ښه توګه جارو کړای شي.
- هېڅکله په کور د ننه کې تنباکو ، سګرټ یا قیلون مه کاروئ او اجازه مه ورکوئ چې نور هم د کور د ننه په تړلي فضا دا کار ترسره کړي.
- که تاسو د کور د تودولو څخه د ګاز او یا اور څخه استفاده کوئ نو دا باید په پام کې ونیسئ چې د کور کړکۍ مو څو ځله خلاصه کړئ، ترڅو ستاسو د کور هوا په پوره توګه صافه او پاکه شي.

**د کورونو نه د بهر هوا ککړتیا لاملونه او د مخنیوې لارې چارې :**

د شنو خونو ګازونو زیاتوالی چې د عضوي مواد ( نفتو ، طبیعي ګازونو او زغال سنګ) د سوخت د صنعتي فابریکو ګازات، ترانسپورتي ککړتیا ، کرنیز فعالیتونه، د طبیعي آفتونو پیښې او داسې نور مختلف عوامل دي چې د هوا د ککړتیا سبب کېږي او په پایله کې په چاپیریال کې ناورینونه را منځ ته کوي او د زیاتو ناروغیو د خپرېدو سبب کېږي.

د یوې سالمې هوا د درلودلو راز د هوا دککړتیا د سرچینو په پېژندلو کې دی، نو هغه کارونه باید تر سره شي چې وکړای شي د هوا د ککړتیا کچه راکمه کړي؛ که وغواړئ چې د چاپیریال په دې حرکت کې رول ولرئ نودا اړینه ده چې هغه ډول لارې چارې تعقیب کړئ چې د هغو په واسطه د هوا د ککړتیا اندازه را کمه کړئ، د بېلګې په ډول د نیالګیو او شنو ونو کېنول، د مناسبو سون توکو نه ګټه اخیستل او داسې نور هغه لارې چارې دي چې د هوا د ککړتیا کچه را کمولی شي.

## د چاپیریال ساتنې نړیواله ورځ

**تاریخچه**

په کال (1972م) کې د نړیوالي چاپیریال د پالیسیو بنسټ رامنځ ته شو، د دې څخه مخکې ټوله نړۍ د پلاستیکي بوجونو د ناوړه اغېزو شاهده وه او وروسته دا د یو لوی ناورین په شکل ولیدل شو، نو له همدې امله بیا نړۍ د چاپیریالي مسایلو او ستونزو په اړه د فکر کولو لپاره جدي شوه.

په دې اړه په (۱۹۷۲) کې د مللل متحد اولنۍ غونډه د سویډن په استکهلم ښار کې دایره شوه، دا کنفرانس د استکهلم د انساني چاپیریال ساتنې د پیاوړتیا او ننګونو په نوم یاده شو، د دې نه وروسته د نړیوال چاپیریال ورځ په کال (1974) کې تنظیم او ونمانځل شوه او شعار یې وو "یوازې یوه ځمکه" چې له دې وروسته هر کال ملګري ملتونه د نړیوالي چاپیریال ورځ نمانځل د نړۍ په هر ګوټ کې تنظیموي، چې د ا ورځ د سلو څخه په زیاتو هېوادونو کې په پراخ ډول سره نمانځل شوې ده.

**دچاپیریال ساتنې د نړیوالې ورځې د نمانځلو موخه:**

د ملل متحد د چاپیریال ساتنې ادارې د دې ورځې د نمانځنې لپاره داسې پریکړه لیک تصویب کړی چې د هغه له مخې داورځ باید د نړۍ په اکثرو هېوادونو کې ونمانځل شي، نو په همدی مناسبت دا ورځ د تیرو ۴۴ کلونو را هیسې د مختلفو پروګرمونو په ترځ کې نمانځل کېږي، لکه: ډول ډول مارشونه، کنفرانسونه، د بایسیکل چلولو او انځور کښنې مسابقې، په مکتبونو، مدارسو، پوهنتونو او نورو تعلیمي اداراتو کې د مقالو لیکنې مسابقات او د ونو، بوټو د نیالولو حشرونه او داسې نور.

په افغانستان کې هم د دې ورځې نمانځل په یوه لویه موخه تر سره کېږي او هغه داچې د دې هېواد ویجاړې شوې طبیعي زېرمې او سرچینې په خاصه توګه ځنګلونه د تیرو څو لسیزو د جنګ په دوران کې له منځه تللې، چې دا د چاپیریال ساتنې د فعالانو د اندېښنې سبب شویدی، نو د ځنګلونو او شنو ساحو د بیا رغونې، ساتنې او پراختیا لپاره باید کار وشي، ځکه د جنګ د کلونو څخه د مخه په افغانستان کې یو ملیون او نهه سوه زره هکتاره ځمکه باندې ځنګلونه موجود و. همدارنګه په څوارلس سوه او پنځوس زره هکتاره ځمکه باندې د پستې ونې او ځنګلونه موجود و، چې دا د جنګونو په دوران کې د زورواکانو لخوا له منځه وړل شوي دي، په کرنیزو ځمکو او یا د استوګنې په کورونو بدل شوي دي او لا هم دا لړۍ روانه ده. د شک څخه پرته دا نمانځنه مونږ دې نقطې ته متوجې کوي چې د ونو شینوالي او ښوالی په شتون کې به زمونږ د چاپیریال فضا سالمه او هوا به مو د ککړتیا څخه پاکه وي. همدارنګه د چاپیریال نړیواله ورځ (WED)یو د هغو سترو پېښو څخه ده، چې د ملګرو ملتونو د چاپیریال ساتنې ادارې دا ورځ پنځم د جون د دې لپاره ټاکلې ده، چې د چاپیریال ساتنې په اړه د خلکو د پوهاوي کچه لوړه کړي، ځکه چې په اوسني وخت کې د ځمکې سیاره د څو مهمو چاپیریالي مسایلو سره مخ ده لکه: د هوا ککړتیا، د اوبو ککړتیا، ښاري ککړتیا، د اقلیم تغیر د ځمکې د ګرمېدو نړیوال خبرداری، د نوعو(ښو ) له منځه تلل، برقي فاضلات، د اوزون د طبقې تخریب او داسې نور...

د دې ټولو پروګرامونو اصلي موخه داده چې د عامو خلکو، حکومتي مسؤلينو او سياسيونو پاملرنه چاپيريالي مسايلو ته جلب شي او هغو کړنو او فعاليتونو ته زياته پاملرنه وشي چې د اوسيدو چاپيريال ککړوي، هر کال د دې موضوع په اړوند په نړيواله کچه يو خاص نوم(شعار) ټاکل کېږي چې د هغه په واسطه چاپيريال په جدي توګه متأثره کېږي او د ټاکل شوې موضوع يا سر ټکي تر عنوان لاندې د چاپيريال ساتنې نړيواله ورځ نمانځل کېږي.

**د چاپيريال ساتنې نړيوالې ورځې د نمانځنې شعارونه:**

په نړيواله کچه دا ورځ هر کال په ډول ډول شعارونو سره نمانځل کېږي چې څو بېلګې يې لاندې راوړل شوي دي:

د(۲۰۱۷م) کال د نمانځنې لپاره يې موضوع وه "د خلکو يوځای کول د طبيعت سره."

(۲۰۱۸م) کال د نمانځنې لپاره يې موضوع وه "د پلاستيک د ککړتيا سره مبارزه."

د (۲۰۱۹م) کال شعار يې وه "د هوا د ککړتيا سره مبارزه"

د (۲۰۱۹) کال د چاپيريال نړيوال شعار **(د هوا د ککړتيا سره مبارزه)** تر نامه لاندې ځکه و نمانځل شو چې د هوا ککړتيا هر شی اغېزمن کوي. د بېلګې په ډول د انسانانو، ژويو، د اوبو لاندې عالم، ايکو سيستمونه او بالاخره غذايي ځنځير ته هم سرايت کوي او هغه هم اغېزمن کوي.

**د ککړتيا تعريف:** دا يوه زړه بوګنونکې وضع ده چې په يوه يا بله بڼه د ورځني ژوند د ګډوډۍ لامل ګرځي. ککړتياوې ډېر ډولونه لري لکه د اوبو، هوا، خاورې او غږ ککړتيا چې غږيزې ککړتيا د خشنو غږونو له امله رامنځته کېږي لکه ترافيکي غږونه او کله چې يې اندازه د ټاکلي او معياري کچې ډېره شي د روحي تشويشونو، د اورېدو د حس له منځه تګ او د وينې د فشار لوړېدو لامل ګرځي. د شک څخه پرته روغتيا زمونږ د انساني ژوند د مهمو مسئلو څخه ده، ځکه موږ سالم بدن ته اړتيا لرو، سالمه روغتيا هغه وخت په لاس راځي چې کله د ازاد او ټولنيز چاپيريال ښه ساتنه وشي. د ژوند د چاپيريال اصل مسئله داده چې په هغه ښار يا ځای کې چې موږ استوګنه کوو، کوم شيان چې د ژوند د تېرولو لپاره اړين دي يا خو بېخي پکې شتون نه لري او که لري يې نو د کيفيت له مخې په ټيټه کچه دي.

ګرانه اوسيدونکيه! د ککړتيا په ښه توګه سمبالښت کې پاملرنه وکړه تر څو ښاري چاپيريال د بېلابېل ډولونو خطرناکو ناروغيو څخه خلاص کړو.





**د اسلام مقدس دين کې د چاپيريال ساتنې اهميت او ارزښت**

اسلام د چاپېريال او دهغې د ساتنې د ښستيزو توکو په ملاتړ کې ځانګړې تاکيد او سپارښتنې لري او هغه هم د انسان د خير او نيکمرغۍ او د اوسني نسل او راتلونکو نسلونو د اړتياوو د بشپړولو او تامين لپاره. الله(ج) په لومړي سر کې پيدا ايښت (خلقت) د ځمکې د کرې او موجوداتو ټوله هستي سپېڅلې او له ټولو ککړتياوو څخه پاکه پيدا کړه او انسان ته يې د امانت په توګه ور وسپارله تر څو خپله هم ترې استفاده وکړي او هم د راتلونکو نسلونو لپاره سالمه روغتيا پرېږدي. همدارنګه د اسلام د اصولو پر بنسټ د عامو وګړو دنده ده چې د چاپيريال او طبيعي زېرمو په ساتنه او پرمختګ کې پوره ونډه واخلي ؛ ځکه خلک بايد وپوهول شي چې د چاپيريال سالمه ساتنه د دوی ديني دنده ده د هر چا سره مرسته ښېګڼه او احسان وکړئ، د فردي او ټولنيزو حقوقو د ضايع کېدو مخنيوی وکړئ، د هر نوع فساد مخنيوی وکړئ که د ځمکی زېرمې وي که د اوبو زېرمې او که د هوا زېرمې وي، که ځنګلونه څرځايونه او داسې نورې زېرمې وي قرآن کريم منافق په ډېرو بدو صفتونو سره ياد کړي، ولې چې د منافق يو مهم صفت دادی چې هغه په ځمکه کې فساد خپروي او چاپيريال ته زيان رسوي الله(ج) د بقرې سورت په ۲۰۵ آيت کې دارنګه فرمايلي دي: وَإِذَا تَوَلَّىٰ سَعَىٰ فِي الْأَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ ۗ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ.

ژباړه: کله چې منافق په ځمکه کې ګرځي د فساد خپرولو کوښښ کوي او کښت او نسل ته ضرر رسوي او له منځه يې وړي او الله جل جلاله فساد نه خوښوي.

په همدې ترتيب اسلام ځان او نورو ته د ضرر رسونې مخنيوی کوي چې په حديث شريف کې په صراحت سره دې خبرې ته اشاره شوې ده چې فرمايي (لا ضرر ولا ضرار فی الاسلام).

ژباړه : په اسلام کې خپل ځان ته ضرر رسول او هم نورو ته ضرر رسول روا ندي. نو د اسلام له نظره د چاپيريال ټول موجودات لکه: اوبه، څرځايونه او د انرژۍ زېرمې، ځنګلونه، په اوبو کې ماهيان او په وچه کې ډول ډول حيوانات، کرنيزه او غير کرنيزه ځمکه، هوا او د لمر رڼا ، د ونو سيوری او داسې نور ټول الله جل جلاله د انسانانو د ګټې اخيستنې لپاره پيدا کړيدي، نو د ټولو انسانانو اساسي دنده داده چې د چاپيريالي زېرمو څخه د وخت د ضرورت او اړتياو په اندازه ګټه پورته کړي او د نورو مخلوقاتو د بقا لپاره يې په امانتدارۍ سره خوندي وساتي او د ټول چاپيريال نظافت او پاک ساتلو ته پاملرنه وکړي، د بېلګې په توګه نبی عليه السلام د چاپيريال پاک ساتل خلکو ته عملاً وښودل چې په حديث شريف کې داسې راغلي دي (کان نبیُ صلی الله عليه سلم اذا اراد البراز انطلق حتی لا يرا احداً).

ژباړه: نبی عليه السلام چې کله به يې د اودس ماتولو اراده وکړه نو تر دې اندازې به لرې تللو چې هيچا به نه شو ليدلی، دا کار رسول الله(ص) د دوه علتونو په بنسټ تر سره کولو ، اول دا چې د عورت ستر(پټوالی) مراعت شي او دوهم دا چې چاپيريال پاک وساتل شي او د ککړ تيا څخه يې مخنيوی وشي، چې زمونږ لپاره دا يوښه درس دی. همدارنګه رسول الله صلی الله عليه وسلم د چاپيريال پاک ساتلو او د ککړوالي نه د خونديتوب په اړه فرمايلي دي( ان الله يحب الطيب نظيف يحب النظابه کريم يحب الکرم جواد يحب الجواد فنظفوا افنيکم).

ژباړه: الله جل جلاله پاک دی پاکي خوښوي، نظیف دی نظافت خوښوي، عزتمند دی عزت خوښوي، سخی دی سخاوت خوښوي نو تاسې هم خپل کورونه( د اوسیدو چاپیریال ) پاک وساتئ دا حدیث شریف د چاپیریال په وړاندې د انسان مسؤلیت په ډاګه کوي.

## د هوا دککړتیا لاملونه

د نړۍ په کچه د هوا ککړتیا ډول ډول لاملونه لري لکه: د ګل خانه یې ګازونو زیاتوالی، د عضوي موادو (نفتو، طبیعي ګازونو او زغال سنګ) د سوخت د صنعتي فابریکو ګازات، ترانسپورتي ککړتیا ، کرنیز فعالیتونه، د طبیعي آفتونو پیښې او داسې نور مختلف عوامل دي چې د هوا د ککړتیا سبب کېږي او په پایله کې په چاپیریال کې ناورینونه رامنځ ته کوي او د زیاتو ناروغیو د خپریدو سبب کېږي

د هوا ککړتیا مختلفې سرچینې لري: د هواد د ککړتیا مختلفې سرچینې(خوځنده سرچینې، ثابتې سرچینې، ځایې سرچینې، بریښنایې سرچینې او ګل خانه یې ګازونو ) څخه عبارت دي.

۱. خوځنده سرچینې: ټول ترانسپورتي وسایل یعنې هغه ګاډي دي چې په ډېره اندازه باندې لوګی، د ماشین بخار او ناسوزیدلی تیل فضا ته وباسي چې په پایله کې نړیوال ترانسپورت په هوا کې د کاربن دای اکساید د څلورمې حصې د خپریدو باعث ګرځي او دا اندازه د لوړېدو په حال کې ده. د ترانسپورت له امله د هوا ککړتیا پواسطه د کال په اوږدو کې د ( ۴۰۰۰۰۰ ) انسانانو د مځکې له وخت څخه مړینې باعث ګرځي.

۲. ثابتې سرچینې: ټولې صنعتي فابریکې چې ټول مضر ګازونه په یو او بل ډول تولید او هوا ته یې خپروي؛ او دا د هوا دککړتیا د بنستیزو سرچینو په نوم هم یادېږي. لکه د ډېرو سکاره، د تیلو جنراتورونه چې په صنعتي فابریکو کې ترینه کار اخیستل کېږي په ځانګړي ډول هغه چې د کانونو د پروسس لپاره د بېلابېلو کېمیاوي او نورو موادو د استعمال په بنیاد هوا ککړتیا رامنځ ته کوي.

۳. کرنه یا زراعت: د کرنې سکتور د دوو مهمو سرچینو له امله د هوا د ککړتیا سبب ګرځي:

الف): د څارویو او مالدارۍ برخه چې د میتان او امونیا ګازونه تولیدوي.

ب): د کرنیزو موادو سوځول. د میتان ګاز چې د کاربن ډای اکساید به نسبت د اقلیم بدلون خصوصاً د تودوخې په لوړېدلو کې مهم رول لوبوي.

۴. بریښنایې سرچینې : د آبي بریښنا په ځای د تیلو د جنراتورونو څخه استفاده کول.

۵. ګلخانه یې ګازونه: هغه ګازات دي چې د عضوي موادو( نفت، طبیعي ګاز او زغال سنګ ) د سوخت څخه پیداکېږي او په زیاته پیمانه د هوا ککړتیا پیداکوي. ګلخانه یې(شین کوړیزه ) ګازونه په زیاته پیمانه کاربن ډای اکساید ، نایتروجن اکسایدونه، کلوروفلوروکاربن او هایدروفلورو کاربنونه د ګلخانه یې ګازونو د تولید مهمې سرچینې دي، ګلخانه یې ګازونه د ځمکې د کرې په ګرمولو او د اقلیم په بدلون کې مهم رول لوبوي چې د اقلیم دا تغیرپه نړۍ کې د ډېرو طبیعي پېښولامل کېږي. لکه آتش فشانونه، سیلابونه، دیخچالونو او د لوړو غرو په سرونو د واورو د ذخیرو ویلې کېدل، د بحرونو د اوبو د سطحې لوړوالی د اورښتونو غیر منظموالی، وچکالی او داسې نور.

۷. د حشراتو د وژنې درمل: چې دا په هوا کې خپرېږي د هوا ، اوبو او خاورې د ککړتیا لامل کېږي. سربېره پر دې دا مضره ذرات انساني غذايي ځنځیر هم اغېزمنوي.

۸. طبیعي پېښې: د هوا ککړتیا نه یوازې د انساني فعالیتونو په پایله کې رامنځ ته کېږي بلکې بېلابېل ځمکني انفجارات، زلزلې، د خاورې طوفانونه او نورو طبیعي پېښو له امله هم د هوا ککړتیا رامنځ ته کېږي.

۹. کثافات: په آزاده او پرانستې هوا کې د پلاستیکي ضایعاتو سوځېدنه، د عضوي موادو ضایعات ، د ځمکې لاندې مضر گازونه لکه: کاربن ډای اکسین، فوران، میتان او تور کاربن فضا یا هوا ته نشروي. د یوې سروې په اساس تقریباً ۴۰ سلنه دا کثافات په آزاده فضا کې سوځول کېږي، دا کړنه په ښاري سیمو کې خصوصاً د مخ پر ودې هېوادونو کې زیاته ده.

۱۰. د اوزون د لایې تخریب: د اوزون لایه د ځمکې هغه ساتندویه طبقه چې په طبیعي ډول سره د لمر د وړانگو ضد بلل کېږي، د اوزون لایه د ځمکې د کرې یو د مهمو برخو څخه ده چې په هوا پورې تړاو لري او د ځمکې د کرې د ستراتوسپیر په طبقه کې قرار لري. که چېرې د ځمکې دا حفاظتي پوړ د منځه ولاړه شي نو د لمر د ماورای بنفش وړانگو له امله به په ډېر کم وخت کې ټول ژوندي موجودات وسوزي او له منځه به ولاړ شي؛ لکه چې مخکې ورته اشاره شوې چې د اوزون د لایې تخریب د ځمکې پر مخ د ژوندیو موجوداتو د نابودۍ سبب کېدای شي او د انسانانو نباتاتو او ټولو ژویو د نمو او وده د خطر سره مخ کوي ، همدارنگه د اوزون د لایې د تخریب او سوري کېدو په پایله کې د لمر ماورای بنفش وړانگې په مستقیم ډول سره بې له کوم خنډ څخه ځمکې ته رسېږي او د لمر په واسطه سوځېدنه رامنځ ته کوي چې د پوستکي د سرطان سبب کېږي او د انسان دفاعي او ایمیني سیستم ضعیفوي. په همدې ترتیب د اوزون د دې حیاتي لایې د تخریب په اساس د چاپېریال د ژوند ټول نظام ( ایکوسیستم ) په نړیواله کچه د خپل توازن د لاسه ورکوي او د گډوډیو سره مخ کېږي.

داوزون د لایې د تخریب موضوع اوس په نړیواله کچه یوه جدي موضوع ده چې انسان یې دې ته اړ کړی دی چې د خپل ژوند د چاپېریال په اړوند ډېره پاملرنه وکړي. دا د پاملرنې وړ خبره ده چې د اوزون موضع یوازې په انساني چاپېریال پورې محدوده نه ده بلکه هغه فضا چې د ځمکې د کرې سره مستقیم تړاو لري د ارزونې او پلټنې لاندې ده، نو یو له هغو لاملونو څخه چې مونږ یې په سترگو نه شو لیدلی او زمونږ ژوند گواښي هغه د اوزون د لایې تخریب اوسوري کېدل دي چې اوس کشف شوي او د هغې هر ډول خرابوالی د چاپېریال د خرابوالي لامل کېږي.



**په چاپېریال د هوا د ککړتیا اغېزې**

- هرکال شاوخوا 7 میلیونه خلک د هوا د ککړتیا له امله مړه کېږي.

- د نړیوال صحي سازمان څېړنې ښیي چې په نړیواله کچه د هرو ۱۰ کسانو څخه ۹ کسان ککړه هوا تنفس کوي.

- په اتوموسفیر کې د اوزون ۱٪ قشر د منځه تللو په سبب هر کال ۷۰۰۰ انسانان په ډول ډول ناروغیو اخته کېږي لکه: سرطاني ناروغۍ، د پوستکي ناروغۍ، د باصرې یا لید د منځه تلل او داسې نور.

- هایدروکاربنونه د اتوموسفیر د ککړتیا یوه بله مهمه سرچینه ده، چې د تنفسي اختلالاتو (ګډوډۍ)، سرطان او حساسیت یا الرجي سبب کېږي، چې اصلي لامل یې ترانسپورتي وسایل دي.

- د نړیوال روغتیا سازمان (WHO) د معلوماتو په بنسټ کرنیز درمل هر کال د نړۍ په کچه ۳ میلیونه وګړي مسموموي؛ چې د دوی څخه ۲۰۰۰ تنه یې خپل ژوند د لاسه ورکوي.

**د ګلخانه یي ګازونو اغېزې:**

- د بحرونو د اوبو د سطحې لوړوالی.
- د واورو اوبارانونو د اورښتونو بې نظمه کېدل.
- د وچکالۍ رامنځ ته کېدل.
- د اوزون د لایې تخریب.
- د ژوند بڼو (Biodiversity) کمېدل.
- د خوراکي او کرنیزو توکو کمېدل.
- مهاجرتونه.
- د انساني روغتیا زیانمن کېدل.

**د هوا د ککړتیا سره د مبارزې تګلارې**

د یوې سالمې هوا د درلودلو راز د هوا د ککړتیا د سرچینو په پېژندلو کې دی نو هغه کارونه باید تر سره شي چې هغوی وکړای شي د هوا د ککړتیا کچه راکمه کړي. که وغواړئ چې د چاپیریال په دې حرکت کې رول ولرئ نو دا اړینه ده چې هغه ډول لارې چارې تعقیب کړئ چې د هغو په واسطه د هوا د ککړتیا اندازه را کمه کړئ.

**1)** د عامه یا ټولنیز ترانسپورت څخه استفاده وکړئ: دا په دې معنی دی چې د خپل موټر څخه کمه استفاده وکړئ او د سفر په وخت کې عامه ترانسپورت وکاروئ، نو د خپل موټر نه د نه استفادې په صورت کې به تاسې د هوا د ککړوالي په را کمولو کې پوره مرسته کړې وي.

2) په خورا هوښیارتیا سره موټر وچلوئ: ځان مطمئن کړئ چې تاسې په خورا هوښیارتیا سره موټر چلوئ او تیل کم مصرفوئ، د ټاکل شوي سرعت څخه زیاتوالی مه کوئ او کوشش وکړئ چې د سرعت د نیولو

وخت زیات کړئ ، په یو نواخت سرعت سره حرکت وکړئ، د دې نه هم ځان مطمئن کړئ چې کوم شی خو به مو په موټر کې زیات نه وي اچولی چې ستاسې د موټر د درووند بدو لامل شي.

3) د خپل موټر تخنیکي ازموینه حتماً تر سره کړئ: په خپلې منظمې ارزونې سره ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسې موټر خو به د حد نه زیات تیل نه مصرفوي او یا ډېر لوګی خو نه کوي، د دې کار په واسطه تاسې یوائې په خپل مصرف کې کموالی نه دی راوستی، بلکې د خپل موټر عمر مو هم زیات کړی دئ.

4) د خپل موټر د ټایرونو هوا چک کړئ: که د موټر د ټایرونو هوا تنظیم نه وي نو د موټر د تیلو د سوخت مصرف لوړېږي، د موټر د ټایرونو د هوا تنظیمول چاپیریالي ستونزې کمولی شي؛ همدارنګه نوی موټر استعمال کړئ چې د تیلو کم مصرف ولري او هم به چاپیریال ډېر ککړ نه شي.

5) د کار او اوسېدو ځای مو په نباتاتو او زینتي بوټو ښایسته کړئ: ګلان ، بوټي او ګیاوې که له یوې خوا چاپیریال ښایسته او تازه ساتي ، نو د بلې خوا د چاپیریال په رطوبت کې ښه والی رامنځ ته کوي، د هوا ککړتیا جذبوي او د هغې په پاکوالي کې کمک کوي. ډېرې داسې ګیاوې موجودې دي چې د هوا ککړوالی بیخي له منځه وړي.

6) د مناسبو رنګونو څخه استفاده وکړئ: د هغو رنګونو څخه استفاده وکړئ چې پکې د عضوي موادو هغه ترکیب شامل وي چې هوا ته تیښته نه کوي او د نفتي موادو په پر ځای د اوبو په واسطه چمتو شوی وي، نو هر څومره چې د هغو محصولاتو نه چې د نفتي موادو نه په لاس راځي کمه استفاده وکړئ نو د چاپیریال سره به مو په زیاته پیمانه مرست کړې وي.

7) اضافه څراغونه ګل کړئ او برېښنا کمه په مصرف ورسوئ: هېڅ ځای څراغونه او برقي وسایل بیځایه روښانه مه پرېږدئ هر څومره چې د برق مصرف زیات ولرئ نو ډېره انرژي به له لاسه ورکړئ او په پایله کې به د هوا ککړوالی زیات کړئ؛ ولې چې برق په اکثرو فابریکو کې د نفتي موادو د سوخت په پایله کې تولید ېږي.

8) د شنې برېښنا د استفادې په فکر کې شئ: د هغې انرژۍ څخه استفاده وکړئ چې د نوي کېدو توانایي ولري. لکه د اوبو د برېښنا انرژي، بادي برېښنا او یا لمریزه برېښنا ، د لمر برېښنا د نورو برېښناوو په اندازه کم مصرف لري او همدارنګه د چاپیریال سلامتیا رامنځ ته کوي.




9) د سکرو او درنو سون توکو پر ځای طبیعي ګاز وکاروئ: د سکرو پر ځای طبیعي ګاز وکاروئ؛ دا به د تیلو او سکرو په اندازه چې کومه ککړتیا تولید ېږي او چاپیریال ته خورا زیان رسونکې ده آسمان ته وه نه لیږدوي.

10) تل د بیا کارول کېدو وړ محصولاتو څخه کار واخلئ: که د بیا کارول کېدو محصولاتو ته لاس رسی لرئ نو حتماً د هغو څخه استفاده وکړئ. د دې محصولاتو د تولید لپاره کمې انرژۍ ته اړتیا ده نسبت د نورو ټولو محصولاتو تولید ته.

## د جنګ او مسلحانه نښتو په جریان کې د چاپیریال څخه د ګټې اخیستنې د مخنیوې نړیواله ورځ

**تاریخچه**

د لومړي ځل لپاره په (۲۰۰۱م) سکال کې د کوفي انان تر مشرۍ لاندې د ملګرو ملتونو عمومي مجلس لخوا د نومبر شپږمه د جنګ او مسلحانه نښتو په جریان کې د چاپیریال څخه د ګټې اخستنې مخنیوې نړیوالې ورځ په نامه ونومول شوه، هر کال په ټوله نړۍ کې ډېرې خلک، حکومتي چارواکي، ساینس پوهان، ژورنالیستان، ښوونکي او سوداګرو په شمول د ملګرو ملتونو نوموړې ورځ نمانځي. هغه څوک چې په دې ورځ کې برخه اخلي د دې په اړه بحث کوي چې څنګه د جګړې تاثیرات طبیعي چاپیریال ته زیان رسوي.

دوی په ګډه کار کوي چې د وسله والو نښتو او جګړو له امله د چاپیریال ویجاړولو او محدودولو لپاره لارې چارې ومومي په ښوونځیو کې د سیمینارونو دایرول، ویناوې، لیکنې، خبري مقالې، راډیوي خبرې اترې او د ټولګي فعالیتونه چې موضوع باندې تمرکز کوي د دې ورځې د مهمو فعالیتونو څخه شمېرل کېږي، چې په دې لړ کې خلک په جګړه کې د نوو ټکنالوژیو د خطرونو په اړه معلومات زده کوي او شریکوي لکه د یورانیمو تخریب شوي مهمات، کوم چې چاپیریال ته نامعلوم ګواښونه لري.

**د جنګ او مسلحانه نښتو په جریان کې د چاپیریال څخه د ګټې اخیستنې د مخنیوې نړیواله ورځې د نمانځلو موخه:**

د دې ورځې د نمانځلو اساسي موخه داده چې د جنګ او مسلحانه نښتو په جریان کې باید له چاپیریال څخه ګټه وانه خیستل شي او هم د جنګ او مسلحانه نښتو په جریان کې چاپیریالي منابعو ته زیان ونه رسیږي او همدارنګه د جنګ او نورو اړونده تاوتریخوالو په صورت کې د ټولو هغه جنګي افزارو (وسایلو) او میتودونو مخنیوی وشي کوم چې چاپیریال تخریبوي او یا هم ور باندې ناوړه پایلې لرلای شي.

نږدې 1.5 میلیارده خلک چې د نړۍ 20 سلنه نفوس تشکیلوي، په جګړه ځپلو سیمو او له تاوتریخوالي ډکو ساحو کې ژوند کوي، جګړه او مسلحانه نښتې په ځمکه او فضا کې د انسانانو او نورو ژوندیو موجوداتو ژوند ته بېلابېل ګواښونه متوجې کړیدي، د افغانستان، کولمبیا یا عراق په څېر هېوادونو کې د بدبختیو ډکو لسیزو راهیسې روانې جګړې د طبیعي سرچینو لپاره د لوی زیان لامل شوي. یوازې په افغانستان کې، موږ د ځنګلونو وهلو حیرانونکې کچه ولیدله چې په ځینو سیمو کې تر 95 سلنې پورې رسېږي. د موضوع د لا وضاحت لپاره لاندې تصویرونو ته مراجعه وکړئ.



**د ژوند په چاپیریال باندې د جګړو او مسلحانه نښتو اغېزې:**

دا روښانه ده چې جنګونه معمولاً له بدبختیو سره مل وي او په ټولنه او د ټولنې په وګړو باندې ډېرې ناوړه پایلې لري. پرته له دې شخه جګړې د ژوند په چاپیریال باندې هم بېلابېلې ناوړه پایلې لرلای شي، چې په دې برخه کې پخوانیو جګړو ته په کتو سره لاندې برخې د یادولو وړ دي.

د ویتنام په جګړه کې د ژوند چاپیریال ته زیات زیان رسیدلی و. کله چې ویتنامي جنګیالیو د امریکایي ځواکونو خلاف په جګړه کې له ځنګلونو او شنو ساحو شخه په دې موخه ګټه اخیستله چې امریکایي ځواکونه نوموړي جنګیالي په اسانۍ سره په نښه نه کړي، په ځواب کې امریکایي ځواکونو د بېلابېلو کېمیاوي موادو شخه د نوموړو ځنګلونو د له منځه وړلو لپاره کار واخیست، چې تقریباً د شل میلیونو بیرل شخه زیات د نباتاتو له منځه وړونکي کېمیاوي مواد چې د Herbicides او یا هم Weed killer په نامه هم یادېږي کارولي و، چې نوموړي کار نه یوازې نباتات بلکې په سیمه کې د وحشي حیواناتو ژوند هم له منځه وړی دی. د یو ویتنامي ایکولوجیست د څېړنو په پایله کې دا موندل شوي چې په اړونده ساحه کې یوازې ۲۴ ډوله مرغان او ۵ ډوله تې لرونکي حیوانات اوس مهال شته چې معمولاً په نورو نږدې سیمو کې چې نوموړي مواد ندي کارول شوي د (۱۴۵-۱۷۰) ډوله مرغان او (۳۰-۵۵) ډوله تې لرونکي حیوانات ژوند کوي.

همدارنګه دوهم نړیوال جنګ د ژوند چاپیریال ته ډېرې بدې پایلې لرلې چې د هغې تاثیرات تر اوسه پورې لیدل کېږي. د دې جنګ په لړۍ کې د ژوند چاپیریال ته ډېر زیات زیانونه رسېدلي دي چې له دې جملې شخه د ځنګلونو له منځه تلل، د اوبو د منابعو ککړېدل، د هوا ککړتیا، غږیزه ککړتیا او داسې نور د یادولو وړ دي. د دې نړیوال جنګ په لړ کې کله چې په ۱۹۴۵ میلادي کال د اګست په شپږمه نېټه امریکا په جاپان باندې اتومي برید تر سره کړ نو یو ډېر ستر بشري ناورین منځته راغی چې په پای کې یې د دوه میلو په شعاع اړونده ساحه کې ژوند کاملاً له منځه لاړ او طبیعي منابع مکمل د زهري موادو پواسطه ککړې شوې، په لومړي سر کې د لید له منځه وړونکي شعاع پواسطه د خلکو دید له منځه لاړ، وروسته د حرارت پواسطه ساحه کاملاً وسوځیده چې په تعقیب سره د الکترومقناطیسي امواجو تورې وریځې او تور باران په واسطه ډېرو ژوندي موجوداتو ته مرګ ژوبله واوښتله. حتی تر اوسه پورې کلونه وروسته د دې ناورین نښې نښانې تر سترګو کېږي، چې په دې برخه کې د هیروشیما او ناګاساکي ښارونو او شاوخوا سیمو اوسیدونکو کې د جنیټیکي بېلابېلو ناروغیو ښکاره نښې نښانې لیدل کېږي.

په لنډه توګه ویلای شو چې جنګي او مسلحانه نښتې په چاپیریال باندې بېلابېلې اغېزې لرلای شي چې له دې جملې شخه ډېرې ناوړه او جدي اغېزې یې په لاندې ډول ذکر کولای شو.

1. مالي تلفات: چې په دې برخه کې د کورونو، عامه ځايونو، لارو او نورو عام المنفعه ځايونو له منځه تلل شامليږي.

2. ځاني تلفات: چې په دې برخه کې د ښکيلو خواوو علاوه د عامه وګړو مرګ ژوبله شامليږي.

3. د ژوند چاپيريال اړونده تلفات: چې په دې برخه کې د ځنګلونو له منځه تلل او د ژوند چاپيريال ککړتيا شامليږي.

4. د طبيعي منابعو اړونده تلفات: چې په دې برخه کې د خاورې ککړتيا، د اوبو ککړتيا، د ځمکې لاندې منابعو ککړتيا، د خاورې ککړتيا او د هوا ککړتيا شامليږي.

5. د وحشي ژوند اړونده تلفات: چې په دې برخه کې د نورو ژونديو موجوداتو لکه مرغانو، بحري حيواناتو او نورو حيواناتو يا کامله له منځه تلل او يا يې هم ژوند د خطر سره مخ کېدل شامليږي.

دا او د دې په شان په لس ګونو نورې داسې بدې پايلې شته چې د جنګ او تاوتريخوالي سره مل دي، چې په پايله کې مجموعاً د ژوند په ټول چاپيريال بدې اغېزې لرلای شي.

**د جنګ او مسلحانه کړکيچونو په جريان کې د چاپيريال اړونده قوانين:**

د لومړي ځل لپاره په (۱۹۷۷) ميلادي کال کې د جنګ او نورو اړونده مسلحانه تاوتريخوالو په جريان کې د ژوند چاپيريال د متضرره کوونکي تخنيکونو د ممانعت او مخنيوي قانون چې د ENMOD(Environmental Modification convention) معاهده ورته ويل کېږي تاسيس شوه او په کال (۱۹۷۸) ميلادي کې د تطبيق وړ وګڼل شو، نوموړی قانون د لس مادو او يوې ضميموي برخې لرونکی دی. چې پکې د ښکيلو غاړو لخوا د ژوند چاپيريال له منځه وړونکي او ياهم متضرره کونکي ميتودونو او تخنيکونو په اړه وضاحت ورکړل شوی او د استعمال څخه يې ممانعت شوی دی او نور ټول هغه موارد چې چاپيريال ته پکې صدمه رسېږي منع کړل شوي دي.

**د جنګ او مسلحانه کړکيچونو په جريان کې د ژوند چاپيريال د ساتنې لارې چارې:**

لکه څنګه چې مخکې مو يادونه وکړه، جنګ او مسلحانه نښتې د ژوند په چاپيريال باندې ډېرې ناوړه پايلې لري چې ټولو ژونديو موجوداتو ته ګواښ وړاندې کوي، په داسې حال کې چې نوموړې پېښې د انسانانو تر منځ د مختلفو عواملو له امله منځته راځي.

دا چې انسان هم د همدې چاپېريال يو له مهمو برخو څخه شمېرل کېږي نو لازمه ده چې د نوموړې پديدې د مخنيوې لپاره لازمې لارې چارې وسنجول شي او د پلي کولو په اړه يې جدي اقدامات تر سره شي، چې په دې برخه کې لاندې موارد د يادولو وړ دي.

1. د هغه ستونزو د حل لپاره چې د جنګ او مسلحانه نښتو سبب کېږي د نورو ممکنه لارو چارو لټول تر څو د جنګ د منځته راتګ مخنيوی شوی وي.
2. په دې برخه کې د خلکو د عامه پوهاوي لپاره د پروګرامونو او برنامو جوړول تر څو عام خلک په دې برخه کې خپل اړونده رول ولوبوي.
3. د اړونده قوانينو تطبيق او څارنه ترڅو د جګړو او مسلحانه نښتو په لړ کې د ژوند چاپيريال ته زيان و نه رسېږي.
4. د جنګ او نورو اړونده مسلحانه تاوتريخوالو په لړۍ کې د ژوند چاپيريال د متضرره کوونکو تخنيکونو د ممانعت او مخنيوې قانون په اړه د معلوماتو خپرول په مختلفو طريقو سره، لکه: د ميډيا له طريقه، د ملا امامانو په واسطه د جمعې ورځې د خطبو له طريقه او د نورو اړونده ممکنه لارو څخه.
5. داچې زمونږ ټولنه يوه اسلامي ټولنه ده او مذهبي مسايل يکې ځانګړې اهميت لري، نو د امکان په صورت کې د اسلام له نظره د چاپيريال په اهميت او د جګړو له امله چاپيريال ته رسيدلي زيانونو باندې د جمعې په خطبو کې رڼا واچول شي، تر څو عام خلک د نوموړې ستونزې د منځته راتګ په برخه کې همکاري وکړي.

# د اوبو نړیواله ورځ

**تاریخچه:**

دا ورځ د لومړي ځل لپاره د ملګرو ملتونو په ۲۱ کنفرانس کې چې په کال (۱۹۹۲م) کې په رایو جانیرو کې د چاپیریال او پرمختګ تر سریزې لاندې جوړشوی و په رسمي ډول په بحث کې شامله شوه او د همدې کال د ډسمبر په میاشت کې د ملګرو ملتونو عمومي اسمبلۍ ومنله چې هر کال دې ۲۲ د مارچ د اوبو د نړیوالې ورځې په نوم ونمانځل شي او د دې څخه وروسته دا ورځ په کال (۱۹۹۳) کې د لومړي ځل لپاره د اوبو د نړیوالې ورځې په نوم د ملل متحد له خوا و نمانځل وشوه.

دا ورځ هر کال د مارچ د میاشتې په ۲۲ مه نېټه په ټوله نړۍ کې په مختلفو ډولونو سره د اوبو د نړیوالې ورځې په نوم نمانځل کېږي، لکه: د لویو او کوچنیو غونډو، ښوونیز پروګرامونو، د اوبو د ځینو پروژو لپاره د پیسو د راټولولو کمپاینونه او داسې نور، په کومو کې چې د پاکو اوبو د اهمیت او د هغوی د ژېرمو خوندي ساتلو ته د پاملرنې په اړه تر سره کېږي.

**د اوبو د نړیوالې ورځې د نمانځنې موخه:**

د ملل متحد د چاپیریال ساتنې ادارې د دې ورځې د نمانځنې لپاره داسې پریکړه لیک تصویب کړی چې د هغه له مخې دا ورځ باید د نړۍ په اکثرو هېوادونو کې ونمانځل شي. نو په همدې مناسبت دا ورځ د تیرو ۴۴ کلنو را هیسې د مختلفو پروګرامونو په ترخ کې نمانځل کېږي لکه: ډول ډول مارشونه، کنفرانسونه، د بایسیکل چلولو او انځور کښنې مسابقې، په مکتبونو، مدارسو، پوهنتونو او نورو تعلیمي اداراتو کې د مقالو لیکنې مسابقات او د ونو، بوټو د نیالولو حشرونه او داسې نور.

د دې ټولو پروګرامونو اصلي موخه داده چې د عامو خلکو، حکومتي مسؤلینو او سیاسیونو پاملرنه چاپیریالي مسایلو ته جلب شي او هغو کړونو ته زیاته پاملرنه وشي چې د اوسیدو چاپیریال ککړوي، هر کال د دې موضوع په اړوند په نړیواله کچه یو خاص نوم(شعار) ټاکل کېږي چې د هغه په واسطه چاپیریال په جدي توګه متأثر کېږي.





**د اوبو د نمانځنې نړیوال شعارونه**

دا ورځ د نړۍ په کچه هر کال د ځانګړو شعارونو له مخې نمانځل کېږي، چې د دې کال د نمانځنې شعار یې دی: "هیڅوک شاته پاتې نه شي".

په نړیواله کچه دا ورځ په مختلفو شعارونو نماځل شوېده. چې څو بېلګې یې په لاندې ډول یادې شوې دي.

- ☐ د ۲۰۱۳ کال د نمانځغونډې لپاره یې موضوع وه "داوبو همکاري"
- ☐ د ۲۰۱۴ کال د نمانځغونډې لپاره یې موضوع وه "اوبه او انرژي"
- ☐ د ۲۰۱۵ کال د نمانځغونډې لپاره یې موضوع وه "اوبه او دوامداره پراختیا."
- ☐ د ۲۰۱۶ کال د نمانځغونډې لپاره یې موضوع وه "اوبه او دندې"
- ☐ د ۲۰۱۷ کال د نمانځغونډې لپاره یې موضوع وه "ولې اوبه ضایع کړو؟"
- ☐ د ۲۰۱۸ کال د نمانځغونډې لپاره یې موضوع وه "طبیعت د اوبو لپاره."
- ☐ د ۲۰۱۹ کال د نمانځغونډې لپاره یې موضوع ده "هیڅوک شاته پاتې نه شي."

د ۲۰۱۹ کال د شعار مفهوم یې دا دی؛ چې اوبه د ټولو مخلوقاتو لپاره دي هغه که انسانان دي که نباتات دي اوکه ژوي دي ټول د الله جل جلا له مخلوقات دي او د دې لوی نعمت د لرلو او ور څخه د خپل ژوند د بقا او پرمختیا لپاره د استفادې مساوي حقوق لري او دا یو اسلامي اصل هم ګڼل کېږي ځکه چې انسان ته الله جلاجلاله د سالم عقل او مغز یو بل مهم نعمت هم ور په برخه کړی دی او دا وړتیا یې ورکړې ده چې د ټولو طبیعي سرچینو په څېر اوبه هم په ښه شکل مدیریت کړي او ټولو مخلوقاتو ته د هغوی د اړتیاوو په نظر کې نیولو سره د اوبو حقوق په منظم ډول سره ورسوي او که دا اصل په نظر کې ونه نیسي نو بیا به مسؤلیت هم د هغه چا په غاړه وي چې د ژوندانه دا مهمه سرچینه د هغوی په کنترول او واک کې وي. د دې ټولو سرچینو مالک مطلق خو یوازې الله دی، انسان ته خو یې یوازې د دوی د اداره کولو حق ورکړی دئ.(اعطا کل ذیحق حقه)

ژباړه: هر څوک چې حق لري هغه ته خپل حق پوره ورکړه

**د اسلام مقدس دین کې د اوبو ارزښت**

اوبه د الله جل جلاله له خوا د ژوند لپاره مهمه سرچینه او د پراخه نعمتونو څخه یې یو دی چې انسانانو، حیواناتو، نباتاتو او د ځمکې په کره کې یې ټولو موجوداتو ته بغیر د بیې د اداکولو څخه پیرزو کړي دي، په قرآن کریم کې څوارلس سوه کاله مخکې یې د اوبو په اړه موږ ته وړاندوینه کړېده او د اوبو ارزښت ته یې دومره زیاته پاملرنه کړېده چې په قرآن کریم کې د سلو څخه په زیاتو آیاتونو کې د اوبو یادونه راغلې، د انسانانو او نورو ټولو مخلوقاتو د خلقت او پیدایښت راز یې د اوبو سره تړلی دی، په دې اړه الله جل جلاله د انبیاء سورت په دیرشم نمبر آیت کې فرمایلي دي. (وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ)

ژباړه: او مونږ د اوبو پواسطه ټولو شيانو ته ژوند بخښلی، نو ولې تاسې يقين نه کوئ او ايمان نه راوړئ؟

همدارنګه د اوبو د سپما او خونديتوب په اړه يې هم ډېره سپارښتنه کړېده، د اوبو خونديتوب په دې معنی چې د هغوی استعمال په مناسب ډول او سمه توګه تر سره شي، اوبه اړتياوو ته په پام کې نيولو سره مصرف شي او د اړتيا څخه پرته او بې ځايه مصرف نه شي د اعتدال او ميانه روی څخه پکې کار واخيستل شي. چې په دې اړه د اسلام ستر پيغمبر حضرت محمد صلی الله عليه وسلم ويلي دي: (د اوبو په مصرفولو کې سپما او خونديتوب په پام کې ونيسئ ځکه حيوانات يا ژوي هم د دوی څخه د استفادې او ګټې اخيستنې حق لري).

په همدې توګه انسانان بايد د اوبو د نورو مصرف کونکو څخه خبر شي چې همدا د دوامدار پرمختګ يوه موخه ده، نو دې موخې ته د رسېدو لپاره د خلکو د عامه پوهاوي کچه لوړه شي او د مسلمانانو ديني باورونه د اوبو د ارزښت، استعمال او خونديتوب په اړه پياوړی شي.

په همدې ډول الله جل جلاله د کهف د سورت په **۴۵** ايت کې فرمايلي دي (وَاضْرِبْ لَهُمْ مَثَلَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا كَمَاءٍ أَنْزَلْنَاهُ مِنَ السَّمَاءِ فَاخْتَلَطَ بِهِ نَبَاتُ الْأَرْضِ فَأَصْبَحَ هَشِيمًا تَذْرُوهُ الرِّيَاحُ ۗ وَكَانَ اللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ مُقْتَدِرًا .

ژباړه: بيان کړه امت ته ای پيغمبره صلی الله عليه وسلم ! د دنيا د ژوند مثال چې ده د هغو اوبو په څېر دی چې رابښکته کوو يې مونږ د آسمان څخه د باران په بڼه، چې راټوکوو د دې اوبو پواسطې سره د ځمکې څخه نباتات، بيا شي دوی يو بل سره ترلي او تازه، که کله په دوی باندی زمونږ د طرفه بادونه راشي نو دا د منځه ولاړ شي او دی آلله جل جلاله په هر شي باندې د پوره قدرت خاوند دی.

دلته الله جل جلاله د انسانانو ژوند د اوبو سره مشابه کړی دی، لکه څرنګه چې اوبه د آسمان نه راتوېږي او د نباتاتو د ټوکېدو غټيدو او تازګی سبب کېږي او وروسته د يوې وړې دورې څخه د هغوی ژوند پای ته رسېږي. په دې اصل کې يوې ډېرې ښايسته او مهمې نقطې ته اشاره شوېده، چې هغه عبارت ده له: اوبه ژوند دی او ژوند اوبه دی نو دا دواړه د يو بل سره کلک ترلي دي او د ژونديو موجوداتو غټېدل او پرمختيا د اوبو د برکته دی. په ځمکه کې د اوبو مقدار تقريباً ثابت دی د څښاک لپآره، د کرنې لپاره او همدارنګه د صنعت لپاره په مصرف رسېږي او ژوند ته سوکالي او پراختيا ورکوي. د سورت النبآ په **۱۵**،**۱۴** او **۱۲** نمبر آياتونو کې دې موضوع ته په څرګنده توګه اشاره شوېده.

وَأَنْزَلْنَا مِنَ الْمُعْصِرَاتِ مَاءً ثَجَّاجًا ﴿١٤﴾.

ژباړه: نازلوو مونږ د وريځو نه اوبه راتويدونکې.

نُخْرِجَ بِهِ حَبًّا وَنَبَاتًا ﴿۱۵﴾

ژباړه: چې را وباسو او راټوکو د دې اوبو په واسطې سره دانې يعنې هغه فصلونه او غله جات چې د دانو په شکل وي او نور نباتات او ګیاوې چې هغه د حیواناتو د خوراک څخه عبارت دي (دانسانانو خوراکي توکي او د حیواناتو خوراکي توکي).

وَجَنَّاتٍ أَلْفَافًا ﴿۱۶﴾

ژباړه: او باغونو ته هم د اوبو په واسطې سره انکشاف او پراختیا ورکوو چې میوه دارې او بې میوې ګڼې ونې پکې شتون لري یا هغه باغونه چې په ونو سره ډک شوي وي او د ډول ډول میو لرونکي وي.

الله تعالی د بقرې مبارک سورت په ۲۲ آیات کې فرمايي: ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ فِرَٰشًا وَٱلسَّمَآءَ بِنَآءً وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ.

ژباړه: هغه الله جل جلاله چا چې ځمکه يې ستاسي لپاره فرش کړې او آسمان يې پر تاسې چت جوړ کړ او له هغه يې پر تاسې اوبه وورولې تر څو تاسې ته ميوې شنې شي او ستاسې لپاره رزق شي، سرچينه شي.

الله تعالی داوبو د اهمیت په اړه داسې فرمايي: (وَاللَّهُ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ جَعَلَكُمْ أَزْوَاجًا وَمَا تَحْمِلُ مِنْ أُنثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلْمِهِ وَمَا يُعَمَّرُ مِن مُّعَمَّرٍ وَلَا يُنقَصُ مِنْ عُمُرِهِ إِلَّا فِي كِتَابٍ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ) سوره فاطر آیت (۱۱)

ژباړه: االله جل جلاله تاسې لومړی ځل له خاورې پیدا کړئ او بیا يې د اوبو د یوې نطفې څخه پیدا کړی، هغه وخت يې تاسې جوړه، جوړه وګرځولې او هیڅ ښځه نه امیدواره کېږي او اولاد نه زیږوي، مګر د هغه ذات په ټولو علم لري او هیڅ کس به اوږد عمر ونکړي او یا به يې د عمر څخه کم نشي مګر هغه چې د الله په کتاب کې درج دي، په حقیقت کې دا کار الله ج ته آسان دی.

نبی کریم (ص) د الله تعالی په امر داسې نقلوي: ( ټوله ځمکه مو تا اوستا امت ته مسجد او اوبه مو پاکوونکې ګرځولي)

همدارنګه نبي کریم(ص) د اوبو د پاکوساتلو او د هغوی د ککړتیا څخه د مخنیوې په اړه هم ډېر تاکید کړی دی، د اوبو په زېرمو، لارې او د ځمکې په سیوري کې یې د حاجت د پوره کولو څخه منع فرمایلې ده. د دغسې مخنیوې تر شا پروت حکمت په حقیقت کې د ژوندانه د مهمو زېرمو او استوګنځایونو له ککړتیا څخه د ساتنې په موخه یو مهم پیغام وړاندې کوي. فاضله مواد، خارجېدونکي ګازونه او ورته ککړونکي شیان باید په خپلو اړونده ځایونو کې د امکان تر بریده د غوره وسایلو په مرسته اداره/ تنظیم کړای شي او د ځای په ځای کولو

وخت کې باید لازم احتیاطي تدابیر ونیول شي تر څو د دوی د ناوړه اغېزو څخه چې د سترو اغېزو لامل کېږي مخنیوی وشي.

نبي کریم(ص) فرمایي: (هغه څوک چې د بزګری لپاره اوبه په واک کې لري او بیا هم غنم په بیه اخلي د الله د رحمت څخه لري دي).

**په نړیـواله کچه د اوبو ستونزې**

ستونزه یې څه شي دي؟

- تر ننه پورې میلیونونه خلک لا تر اوسه د صحي اوبو پرته ژوند کوي. کورنی، ښوونځي، کاري ساحې، فارمونه او فابریکې او په هغوی کې موجود مخلوقات چې ژوندي پاتې کېدلو ته اړتیا لري.
- میرمنې، ماشومان، کډوال، کورني خلک، معیوب خلک او داسې نور ډېری وختونه لیدل کېږي چې هغوی دې صحي اوبو ته لاس رسی ولري، خو په دې برخه کې کله ناکله د تبعیض سره مخ کېږي.

**صحي اوبه څه مفهوم لري؟**

صحي اوبه 'د الندېز دی د صحت لپاره '

د څښاک د اوبو د خدماتو اداره کول: هغه اوبه چې په ساحه کې ورته لاس رسی پیدا کېږي او چې کله هم ورته اړتیا پیدا شي نو باید خلکو ته ورسول شي. خو اساسي شرط دا دی چې د اخته کېدو او ملوث کېدو څخه پاکې وساتل شي.

**د اوبو سره څنګه تړاو پیدا شي؟**

(SDGs) د تل پاتې پرمختګ هدف موضوع د (2030) لسیزې لپاره عبارت دی له (د اوبو شتون او پاینښت اداره کول).

د دې هدف اصلي مفهوم دا دی چې هېڅوک د اوبو نه بې برخې پاتې نه شي او هر چا ته دا د یو اساسي حق په توګه ورسول شي. که چېرې دا د څښاک لپاره وي، د پخلي لپاره او یا هم که د کالو او ا ستوګنځای د پاکولو لپاره او که د نباتاتو، ونو، بوټو او فصلولونو د اوبه کولو لپاره وي. چې همدا د نړۍ لپاره د ملګرو ملتونو د دوامداره پرمختګ د اولسو(۱۷) موخو څخه شپږمه(۲) موخه ده ((پاکې اوبه او روغتیا ساتنه)) د دوامداره پرمختګ د هرې یوې موخې د تر لاسه کولو لپاره د درې اصلي عناصرو همغږي کول اړین دي.

۱. اقتصادي وده
۲. ټولنیز شمولیت
۳. د چاپیریال خوندیتوب

**د اوبو انساني حق څه دی؟**

په (2010) میلادي کال کې ملګرو ملتونو د صحي او پاکو اوبو او حفظ الصحي (روغتیا) حق د بشري حق په توګه چې د ژوند د بشپړې روغتیا بنسټ جوړوي په رسمیت وپېژندلو.

د تبعیض پرته کافي صحي اوبو ته لاس رسی د هر چا حق دی چې د ځان او کورنۍ لپاره د کارونې کافي اوبه ولري؛ لکه د څښاک لپاره کافي صحي اوبه، د جامو د مینځینې، د خوړو د تیارونې، د شخصي او کورنۍ روغتیا ساتنې او داسې نورو پکې شامل دي.



**د اوبو حق د ټولو لپاره ولې مهم دی؟**

تاسې چه هرڅوک یئ، هر چېرې چې یاستئ اوبه ستاسې بشري حق دی.

1. اوبو ته لاس رسی د عامه وګړو د صحت د سلامتیا لپاره خورا اړین دی.
2. اوبه د تلپاتې پرمختیا لپاره او همدارنګه د نړۍ د پایدارۍ او ثبات لپاره حیاتي ارزښت لري.
3. مونږ نشو کولای چې د یوې نړیوالې ټولنې په څېر خپل پرمختګ ته دوام او پراختیا ورکړو په داسې حال کې چې ډېری خلک د صحي اوبو پرته ژوند کوي.
4. اوبـــه د ژوند تر ټولو مهمو اړتیاوو څخه شمېرل کېږي.
5. د اوبو پرته د ژوندیو مخلوقاتو ژوندي پاتې کېدل امکان نه لري، ځکه چې الله جل جلاله په قرآن پاک کې دې خبرې ته اشاره کړېده او فرمایلي یې دي: ( وَ جَعَلنَا مِنَ المَاءِ كُلَّ شَيءٍ حَيٍّ اَفَلاَ يُؤمِنُونَ ). سوره التبأ ایت ۳۰
6. له همدې امله دي چې د نړۍ یو زیات شمېر هېوادونه او ادارې د څښاک داوبو په برابرلو کې په پرلپسې ډول فعالیت کوي.
7. څرنګه چې اوبو د ځمکې ۷۰٪ برخه نیولې ده، خو په تقریبي توګه انسانان یوازې د هغوی د یو فیصد ۱٪ څخه استفاده کوي. د روغتیا نړیوال سازمان او د یونوسف ګډ راپور ښیې چې د نړۍ خوا اوشاه **۳۵٪** سلنه وګړي چې ۲،۱ بلیونه نفوس تشکیلوي د څښاک صحي اوبو ته لاس رسی نه لري.
8. له پورتنۍ ډلې څخه **۲۶۳** ملیونه خلک هره ورځ ۳۰ دقیقې مزل کوي تر څو خپلو کورو ته پاکې اوبه راوړي او **۱۵۹** ملیونه انسانان د سیندونو اوبه څښي.
9. د نړۍ ۸۴۴ ملیونه انسانان د اوبو هېڅ ډول خدمتونو ته لاس رسی نه لري.
10. د ملل متحد نړیوال صحي سازمان (WHO) او د یونوسف ګډ راپور ښیې چه د نړۍ ۳۱٪ سلنه ښوونځي د څښاک صحي اوبو ته لاس رسی نه لري.

11. په هر کال کې په تقریبي توګه **۳.۵** میلیونه انسانان د اوبو روغتیا (**حفظ الصحې**) ته د نه پاملرنې له امله مړه کېږي او په هرو دوه ثانیو کې یو ماشوم د اوبو د اړوندو ناروغیو له امله مړ کېږي.

12. د نړۍ شاوخوا نیمایي روغتونونو کټونه(بسترونه) د انسانانو پواسطه د اوبو د ناروغیو له امله نیول شوي وي.

13. چرمي او کېمیاوي صنعتونه د اوبو د ککړتیا لوی لاملونه دي او هره ورځ ۲میتریک ټنه انساني فاضلات په اوبو کې ضایع کېږي.

14. افغانستان هم د نړۍ د هغو هېوادونو له جملې څخه دی چې یو زیات شمېر وګړي یې د څښاک صحي اوبو ته لاس رسی نه لري.

15. د افغانستان د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د احصایې له مخې تر اوسه د افغانستان ۴۲٪ وګړي د څښاک پاکو او صحي اوبو ته لاس رسی لري.





**هغه موارد په کومو کې چې اوبه ډېرې ضایع کېږي:**

- حمام کول، یو چلنده تشناب کولای شي چې هره ورځ تر ۲۰۰ ګیلنه پورې اوبه ضایع کړي.
- د لوښو مینځل چې پکې تر آخره اکثره د ګرمو اوبو نل خلاص پاتې وي.
- ځینې وخت خلک، د موټرو تم ځایونه یا پارکنګ، حویلی، یا دوکانونو مخې په اوبو مینځي چې دا کار په کمو اوبو هم ترسره کېدای شي، ولې له بده مرغه چې خلک د اوبو د ارزښت په اړه ډېر معلومات نه لري نو له همدې امله ډېرې اوبه په مصرف رسوي.
- د خولې د مسواک او یا د کریم او بورس وهلو په وخت کې ځینې خلک نل خلاص پرېږدي چې د اوبو د ضایع کېدو سبب کېږي.
- د موټرو ډېر مینځل ،کیدای شي د یو سطل اوبو او یوه صافي په واسطه دا کار ترسره شي ولې دې کار ته هم بعضې خلک مناسبه پاملرنه نه کوي چې دا کار د اوبو د ډېرو ضایعاتو سبب کېږي.
- ماشومان هم کله نا کله د ساعت تیریو په وخت کې نلونه خلاص پرېږدي چې دا هم د اوبو د زیات مصرف سبب کېږي. که یو نل په یوه ثانیه کې یوه قطره اوبه ضایع کړي نو په یوه ورځ کې به 30 لیټره اوبه ضایع کړي.
- په دې اړه د اسلام مبین دین هم مونږ ته توصیه کوي چه په قران کریم کې ورته اشاره شوېده.

ژباړه: خوراک او څښاک کوئ او اصراف مه کوئ بې شکه چې الله جل جلاله اصراف کونکی نه خوښوي.

- د نړۍ په ډېری هېوادونو کې د اوبو زېرمې دکمېدو خواته روانې دي.
- اوبه نه دا چې یو با ارزښته زېرمه ده، بلکې د ځمکې پرمخ او داخل کې د ژوندیو موجوداتو د ژوندانه د دوام لپاره هم یوه مهمه سرچینه ده.
- د ځمکې پر مخ سطحي اوبه تر ډېرې کچې ککړې شوي دي او لاملونه یې د وګړو ډېروالی، د ځځلو کثافاتو ډېروالی او هغوی ته نه پاملرنه، د کرنې پراختیا او د صنعت وده ده.
- په راتلونکې کې به د څښلو د اوبو لپاره یوازینۍ زېرمې د ځمکې لاندې اوبه وي.
- اوس تر پخوا لا ډېر، د نړۍ په کچه د ځمکې لاندې اوبه د هایدروجو لیجیستانو له خوا تر غور او پلټنې لاندې دي چې څنګه دې ستونزو ته د حل لاره پیدا کړي.

# د وحشي ژويو نړيواله ورځ

**تاريخچه**

دا ورځ هر کال د مارچ د مياشتې په ۳ نېټه د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې نمانځل کېږي او دا نمانځنه د سيټيز(CITEs ) د کنوانسيون په رڼا کې تر سره کېږي.

د CITES کنوانسيون د وحشي ژويو د ډولونو د خطر سره مخ د بين المللي تجارت د کنوانسيون (Convention of international Trade in Endangered species of Wild Fauna and Flora CITEs) په نوم يادېږي، چې دا کنوانسيون په ۳ د مارچ (۱۳۷۳) ميلادي کال چې د (۱۳۵۲) هجري شمسي سره سمون لري د امريکا د متحده ايالاتو په واشنګټن ډي سي کې داير شوی و.

په ۲۰ د دسمبر کال (۲۰۱۳م) کې د ملګرو ملتونو عمومي اسمبلې په ۲۸ مه غونډه کې پورتنی کنوانسيون امضا او ۳ د مارچ يې د وحشي ژويو او نباتاتو د پوهاوي ورځ اعلان کړه.

**د کنوانسيون موخه:** د دې کنوانسيون موخه او هدف داوو چې د وحشي ژوو او نباتاتو څخه حمايت وشي کوم چې د ورکېدو او يا د کمېدو د خطر سره مخ دي او همدارنګه د دوی تجارت يعنې د صادراتو او وارداتو د کنټرول لپاره جوازونه صادر شي.

افغانستان هم دا کنوانسيون په کال (۱۳۶۴هـ) کې امضا او په کال (۱۳۶۵هـ) کې د پلي کېدو وړ وګرځولو، نو د دې کنوانسيون په اساس دا ورځ هر کال په افغانستان کې هم نمانځل کېږي.

د دې ورځې د نمانځنې طريقې: دا ورځ په اکثرو هغو هېوادونه کې چې د سيټيز د کنوانسيون غړي دي د ځانګړو مراسمو په ترڅ کې لکه د رسنيو، مارشونو، نمايشونو او کنفرانسونو په بڼه نمانځل کېږي. چې د هر کال لپاره ځانګړي شعارونه لري. په ۲۰۱۹ کال کې (د او بو لاندې ژوند د خلکو او ځمکې لپاره) د شعار لاندې ونمانځل شوه. همدا ډول دا ورځ هر کال د مارچ د مياشتې په دريمه(۳) نېټه په نړيواله کچه نمانځل کېږي.





**په نړیواله کچه د دې ورځې د نمانځنې هدف**

د دې نمانځنې موخه دا ده چې د وحشي ژویو د ارزښت په اړه د وګړو د پوهاوي کچه لوړه شي. يعنې خلک په دې پوه شي چې وحشي ژوي د چاپيريال د ښايست او د بشر د پايښت لپاره په زياته پيمانه چاپيريالي او اقتصادي ګټې لري چې لاندې څو نقطې يې خورا د پام وړ دي.

☐ خلکو ته د وحشي ژويو د کلتور سره د اشناکېدو پوهاوی ورکول.

☐ خلک په دې پوه شي چې وحشي ژوي د طبيعت يا چاپيريال مهمه برخه دي.

☐ د وحشي ژوو د ساتنې په برخه کې د خلکو د پوهې کچه لوړول.

☐ د وحشي ژوو سره د نوو نسلونو اشنايي پيدا کول چې دوی د طبيعت د دې ښکلا سره اشنا شي.

☐ ماشومانو ته دا موقع په لاس ورکول تر څو دوی د وحشي ژوو د ښايست څخه خوند واخلي.

☐ خلکو ته پوهاوی ورکول چه د وحشي ژوو د کلتور سره اشنا شي.

☐ خلک په دې پوه شي چې وحشي ژوي د طبيعت يا چاپيريال مهمه برخه دي.

☐ د وحشي ژوو د ساتنې په برخه کې د خلکو د پوهې کچه لوړول.

☐ د وحشي ژوو سره د نوو نسلونو اشنايي پيدا کول چې دوی د طبيعت د دې ښکلا سره اشنا شي.

☐ خلک په دې پوهول چې د چاپيريال بيا رغونه او ښه ساتنه د هبواد د آبادی، د پرمختيايي پروګرامونو يوه مهمه برامه ده.

☐ وګړي او دولت دواړه بايد د چاپيريال د ساتنې او په ځانګړي ډول د وحشي ژوو په ساتنه کې برخه واخلي او د مرغانو، الوتونکو او نورو وحشي ژويو د ناقانونه ښکار څخه ډډه وشي.

☐ د وحشي ژوو موجوديت د مملکتونو د اقتصاد په پياوړتيا کې مهم رول لوبوي، لکه: د سيلانيانو جذبول او هغوی ته ښه زمينه سازي کول، خو په دې شرط چه د سيلانيانو او تورستانو تګ راتګ ښه مديريت شي.

**د اسلام مقدس دين کې د ژويو او نباتاتو ارزښت**

په قرآن کريم کې څوارلس سوه کاله مخکې د ژويو او نباتاتو د پېژندنې او د هغوی د ژوندانه د اهميت راز په ډېرو سورتونو او آياتونو کې بيان شوی دی، څکه چې د دوی پيدايښت او موجوديت بې ارزښته ندی. د يادونې وړ ده چې بعضی سورتونه هم په خاص ډول د ژويو په نوم نومول شوي دي. لکه البقره(غوا)، الانعام(ژوی)، النحل(د شهدو مچی)، النمل(ميږی)، العنکبوت(غڼه) او الفيل (فيل).

قرآن کريم حيوانات او ژوي په کامل ډول سره د خوځښت او حرکت له مخې په لاندې ډولو کتګوري (ډلبندي) کړي دي او فرمايلی يې دي چې ځينې د دوی څخه په خېټو حرکت کوي او ګرځي لکه لوی او واړه ماران، په بحرونو کې ماهيان او داسې نور، ځينې د دوی په دوه پښو ګرځي لکه انسانان او الوتونکي چې کله ځمکې ته را ښکته شي او ځينې يې په څلورو ګرځي يعنې هغه ژوي او حيوانات چې په څلورو پښو او يا لاسونو ګرځي، لکه: پسونه، آسونه، فيلان غواوې، زمری، چونګښې، سمسيری او داسې نور.

په ځينې ځايونو کې يې د طيورو(الوتونکو) په برخه کې د دوی د درې ډولونو څخه يادونه کړې ده لکه: هدهد(ملاچرګک)، غراب(کارغه) او سلولی. همدارنګه يې د اهلي او کورنيو مرغانو يادونه کړېده لکه: چرګان او بطه يا هيلۍ او د حشراتو په استازيتوب يې د ماشي، مچ، مېږي او مچۍ څخه يادونه کړېده.

همدارنګه په ځانګړي ډول يې د مختلفو حيواناتو او ژويو د نومونو او فعاليتونو يادونه کړېده لکه: د سوره **نحل** په ۸ آيت کې په ډېر وضاحت سره د دې يادونه کړېده چې فرمايي: **وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةً ۚ وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُونَ.**

ژباړه: آسونه، کچرې او خره مو ستاسې د سورلۍ او ښايست لپاره پيداکړي دي او همدارنګه نور شيان د دې کارو د سرته رسولو لپاره هم پيداکوو چې تاسې ته تر اوسه د هغوی په هکله علم نشته چې مفسيرين ليکي د دې څخه مراد موټر، طيارې او داسې نور مختلف اسباب دي چې هغه وخت کې نه و او قرآنکريم ورنه څوارلس سوه کاله مخکې يادونه کړې ده.

د بحري ژويو ماهيانو او نورو په هکله الله **جل جلا** له يادونه کړې ده. چې فرمايلي يې دي:

**وَهُوَ الَّذِي سَخَّرَ الْبَحْرَ لِتَأْكُلُوا مِنْهُ لَحْمًا طَرِيًّا وَتَسْتَخْرِجُوا مِنْهُ حِلْيَةً تَلْبَسُونَهَا وَتَرَى الْفُلْكَ مَوَاخِرَ فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا مِن فَضْلِهِ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ" سورت انحل(۱۴)**

ژباړه: الله **جل جلاله** تابع کړی دی ستاسې د ګېټې اخستنې لپاره بحر چې خورئ تاسې د بحري غوښو هغه چې د ماهيانو څخه په لاس راځي او را وباسئ تاسې د دې بحر څخه قيمتي شيان لکه طلا، ګاڼه او مرجان هغه چې تاسې يې اغوندی د ښايست لپاره د زيوراتو په بڼه او هغه بحري کښتۍ او بحري لوی او واړه جهازونه چې

د هغو په چپ طرف او ښي طرف کې د اوبو څپې موجودې وي. د دې د پاره چې تاسې د دوی څخه د تجارت په برخه کې استفاده وکړئ نو الله جل جلاله د دې لويو نعمتونو په وجه چې په تاسو يې پيرزو کړي دي پکار ده چې د هغه شکر ايستونکي بندګان جوړ شئ.

الله جل جلاله په قرآن کريم کې د ټولو خوځېدونکو ، حشرو او الوتونکو په هکله فرمايلي دي چې دا ټول ډلې او پرګنې دي د انسانانو په څېر. فرمايلي يې دي: وَمَا مِنْ دَابَّةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا طَائِرٍ يَطِيرُ بِجَنَاحَيْهِ إِلَّا أُمَمٌ أَمْثَالُكُمْ ۚ مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتَابِ مِنْ شَيْءٍ ۚ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِمْ يُحْشَرُونَ.

ژباړه: په يقين سره چې هر خوځېدونکی ( انسان او حيوان ) د ځمکې په سر او مرغۍ چې په هوا کې په خپلو دوو وزرونو باندې الوزي يا پرواز کوي، دا ټول ستاسې د انسانانو په څېر پرګنې دي مونږ په خپل کتاب ( لوح محفوظ ) کې هېڅ شی نه دي پرېښې پس ټول به د الله ج په وړاندې د قيامت په ورځ حاضر شئ.

**د وحشي ژويوعالم ته کتنه**

وحشي ژويو تعريف: ټولو هغو ژونديو موجودا تو ته ويل کېږي چې په طبيعي ډول بغير د انسانانو د مرستې څخه د ځمکې پر مخ ژوند کوي او پخپله ځان ته غذا برابروي د وحشي ژويو د ژوندانه په نوم يادېږي. لکه: مرغان، تي لرونکي حيوانات، څېرونکي حيوانات او داسې نور. د بېلګې په ډول ډېر انواع او حيوانات يې د ژوند او نمو فرصتونه لري او ۵۰۰ نوعه مرغان او ۱۲۰ نوعه تي لرونکي حيوانات يې ښخوا پېژندل شوي و ، خو د وخت په تېرېدو سره د حيواناتو پېژندنه لا زياته شوه او دا لړۍ دوام لري چې لاندې درې شمېرې يې د پام وړ دي.



1 .لينس په (۱۷۵۰م) کال کې حيوانات مطالعه کړل او ۴۲۰۰ نوع حيوانات يې تشخيص او په نومونو يې معرفي کړل.

2 . اګاس يو بل حيوان پوه عالم ۱۲۹۳۷۰ نوعه حيواناتو نوعې تشخيص او نومونه يې هم معرفي کړل.

3 . د وخت او معلوماتو په زياتېدو سره په (۱۹۱۹م) کال کې د ۵۳۲۰۰۰ حيوانات وپېژندل او په نومونو يې معرفي کړل.

**په نړیواله کچه د وحشي ژویو د ژوند ارزښت**

حیاتي یا د ژوند ارزښت: په ایکو سیستم کې خورا لوړ ارزښت لري لکه: انسانانو ته د غذایي موادو برابرول، تفریحي برخو کې، د خاورې او ځمکې په برابرولو او د نباتاتو د ودې او نمو لپاره، د ځینو حیواناتو پوستکو او وړیو څخه بېلابېل اجناسو او وسایلو په جوړښت او نورو بېلابېلو برخو کې ور څخه استفاده کېږي.



بډاینه یا اقتصادي ارزښت: د وحشي ژویو او د دوی د محصولاتو څخه د اقتصاد یا بډاینې د مهم عنصر په توګه کار اخیستل کېږي. په همدې توګه په نړۍ کې ساحلي او بحري تجارت، د یو کال په اوږدو کې ۳ تریلونه ډالره اټکل شوی دی، چې د۳ ملیارده څخه زیات وګړي د ساحلي او بحري کاروبار څخه خپل ژوند تامینوي.

همدارنګه د تفریحي پارکونو او شنو بڼ ځایونو کې د مختلفو ژویو موجودیت، د بېلابېلو حیواناتو انځورونه او نورو انواعو په څېر د دوی د لیدنې په وخت کې د اقتصادي منابعو په توګه ورڅخه ګټه اخیستل کېږي.

اجتماعي او کلتوري ارزښت: د وحشي ژویو سره پېژندګلوي او د هغو پر اهمیت او ارزښت پوهېدل، د وحشي ژویو او حیواناتو د محصولاتو څخه سالمه ګټه اخیستنه، د تفریح په وخت کې د هغو لیدنه، د ژوند په چارو او رواني حالاتو باندې مثبتې اغېزې، په نړیواله کچه شهرت او د سیلانیانو توجه راجلبول یې د اجتماعي او کلتوري ارزښتونو څخه دي.

غذایي ارزښت: د خوړو بېلابېل ډولونه او ۷۰۰۰ ډولو څخه د زیاتو حیواناتو او نباتاتو څخه انسانان د خوارکي موادو په ډول استفاده کوي.

چاپیریالي ارزښت: ټول ژوي او انسانان په خپل منځ کې ډېر زیا ت ورته والی لري چې هغوی د یوې هوا څخه تنفس کوي، د ځنګلونو ړ لپاره د اوبو څخه استفاده کوي او د غذایي منا بعو څخه ګټه اخلي. نو په دې اساس ویلی شو چې هر هغه څه چې د انسا نانو په ژوند تاثیر اچوي د وحشي ژویو په ژوند هم تا ثیر لري.

تفریحي ارزښت: په اوسني عصر کې وحشي ژویو انسانانو ته د سالمې تفریح غوره چاپیریال اماده کړی دی، په مترقي نړۍ کې انځورګران، هنرپال او سیلانیان د تفریح خپل ډېرې وختونه د وحشي ژویو په لیدنه تیروي او د هغوی سره انځورونه اخلي.

اخلاقي ارزښت: د وحشي ژويو ساتل او حفاظت یوائې دا نه چې د انسا نانو د مدنیت او فکري پراختیا محصول دی؛ بلکې د ټولو هغو موجوداتو ژوند ته احترام کول دي چه خدای(ج) خلق کړي دي. نن ورځ د دغه حیواناتو څخه ګټه اخیستل(لکه د غذا او د تجارت لپاره)، د وحشي ژویو وژل د غذا، تجارت او تفریح لپاره؛ دا کار دوه ډوله اخلاقي ستونزې ایجادوي.

د وحشي حیواناتو د حقوقو ضعیفه کول، وژل یې او له منځه وړل یې: که مونږ چېرې دا عقیده ولرو چې ټول ژوندي حیوانات د حقوقو لرونکي دي نو د هغوی وژل یوه اخلاقي تېروتنه ده چې په حقیقت کې دا وژنه د انسانیت وژنه ده.

په هغو ځایونو کې چې د حیواناتو حقوق نه مراعات کېږي باید د دې انتظار ونه باسو چې د انسا نانو حقوق به هم رعایت نه شي.

**د افغانستان د وحشي ژویو ډولونه**

په افغانستان کې ډېر زیات مختلف ډول وحشي ژوي پیدا کېږي چې دلته یې یو څو ډولونه یې معرفي کوو.

1 .برفي پلنګ **Snow leopard** : دا حیوان د بدخشان ولایت دهندوکش د مرکزي غرونو په سلسله کې پیدا کېږي.

2 .پلنګ **Leopard**: داحیوان د هندوکش د غرونو ، د بابا غره، د پغمان غر او د واخان په سیمو کې پیدا کېږي.

3 .ځنګلي پشک: دا حیوان د افغانستان په شرقي سیمو کې پیدا کېږي.

4 .لیوه **Wolf**: دا حیوان د افغانستا ن په ټولو سیمو کې پیدا کېږي.

5 . شغال **Sackal**: په ټولو جلګه ایزو او هموارو منطقو کې پیدا کېږي.

6 .نصواری خرس **Brown Bear** : دا حیوان د لوړو ارتفاعاتو او ځنګلي ساحو اوسیدونکی دی او د پامیر او نورستان په سیمو کې پیدا کېږي.

7 . تورخرس **Black Bear**: دا حیوان د لغمان په ولایت کې پیدا کېږي.

8 .آهوي **Markhor**: دا حیوان د کوه صافي، کاپیسا او لته بند په سیمو کې پیدا کېږي.

9 . آهوي مارکو پولو یا قشقار **Marcopolo sheep**: د احیوان د پامیر په سا حو کې لیدل کېږي.

10 . خوګ **Wild boar** : په ټولو پراخه جلګه زارو، بې ونو ساحو او همدا رنګه د آمو دریا په جزیرو، امام صاحب، د بلخ د سیند په غاړو او مرغاب ساحو کې ژوند کوي.

**د وحشي حیواناتو د ډولونو د کمېدو یا ختمېدو عوامل**

۱. ښکار: د ژویو او او مرغانو ښکار د چاپیریال د مرګ سبب ګرځي؛ ځکه دا د طبیعت یو ځنځیري غذایي سیتسم جوړوي؛ نو د خلکو د پوهې کموالی د وحشي ژوو د غیر قانوني ښکار په اړه لویه ستونزه ده، که د غیر قانوني ښکار مخنیوی ونه شي نو د وحشي ژوو د نسلونو د منځه تلل نړیوال چاپیریال ته د خطر زنګ دی.

۲.دطبیعي منابعو(ځنګلونو ) قطع کول: د منابعو تخریب د چاپیریال تخریب دی. چاپیریال د منابعو یا زېرمو په موجودیت کې موثر وي نه د منابعو به تخریب کې.

۳. نا امني او غربت: اقتصادي کمزوري او امنیتي ستونزې د دې لامل کېږي چې د وحشي ژوو د کمېدو او یا هم د دوی د له منځه تللو سبب شي او همدارنګه د ځنګلونو او علفچرونو د منځه تلل هم د وحشي ژوو د مهاجرتونو ختمېدو سبب کېږي.

۴. قاچاق: په افغانستان کې په مختلفو حکومتونو کې زمونږ وحشي حیوانات او مرغان د ډېرو پاکستاني او عربي تجارانو له خوا ښکار او خارج ته انتقال شول او همدارنګه زمونږ د هېواد په زیات شمېر سره هغه قیمتي مرغان زمونږ ګاونډي هېواد ایران اوعربستان ته قاچاق شوي دي. چې په دې ډول سره د دغو قیمتي مرغانو نسل ډېر کم شوی دی او اوس په ندرت سره پیدا کېږي.

۵. تجارت: لباسونه د حیواناتو د پوستکو څخه، همدارنګه قره قل چې د ګیډرو د پوستکو څخه جوړېږي؛ نو په همدې منظور په افغانستان کې لا د پخوا راهیسې د ژویو د پوستکو تجارت او کاروبار روان دی، چې دې کار د ژویو د کمېدو او د له منځه وړلو په برخه کې لوی رول لوبولی دی.

**په افغانستان کې د ښکار قانوني بڼه:**

په افغانستان کې ښکار بند او جرم ګڼل کېږي خصوصاً د هغو ژویو او حیواناتو چې د کموالي یا له منځه تللو د خطر سره مخامخ دي. لکه : پړانګ، پامیري غژګاو، هوسۍ، صحرایي پسونه، مارکوپولو، حسیني قازونه؛ همدارنګه ځینو څېړونو ښودلې چې۴۰۰ نوع مختلف حیوانات چې د چاپیریال ساتنې ادارې سره راجستر دي او اوس وخت کې د جدي خطر سره مخ دي او انواع یې د له منځه تلو په حال کې دي.



# اوزون پوړ د ساتنې نړیواله ورځ

## تاریخچه

اوزون ګاز په فضا کې په طبیعي ډول موجود دی او دا ګاز په کال (۱۸۰۰) میلادي کې کشف شو، د اوزون ګاز اندازه په فضا کې ډېره کمه ده او داسې ویل کېږي چې د فضا په هر لس میلیونه مالیکولو کې یو اځې درې مالیکوله د اوزون ګاز موجود دی؛ چې په دې تناسب سره د اوزون ګاز ۹۰٪ د هوا د ستراتسفیر په برخه کې ځای په ځای شوی دی چې د لمر ماروای بنفش مضره وړانګې (UV-B) جذبوي او ځمکې ته یې نه راپرېږدي تر څو ژوندي موجودات تهدید کړي. دغه د تیزې انرژۍ لرونکې وړانګې د ځمکې حیات(انسان، حیوانات او نباتاتو) ته ډېرې زیان رسونکې دي؛ چې د اوزون د پردې یا پوړ په واسطه په ستراتسفیر کې جذبېږي او ځمکې ته د رسېدو څخه د مخه یې خنثی کوي.

**د اوزون پوړ ساتنې د نړیوالې ورځې د نمانځلو موخه:**

د اوزون پوړ یا پوښ( پردې) نړیواله ورځ د کال (۱۹۹۴م) څخه را په دې خوا په ډول ډول شعارونو سره د نړۍ په کچه نمانځل کېږي.

موخه یې دا ده چې د اوزون پوړ د ساتنې په اړه په نړیواله کچه د خلکو د پوهاوي سطحه لوړه شي او د اوزون پوړ د تخریب او د منځه تلو د مخنیوي په اړه د دولتونو په کچه مهم تصمیمونه ونیول شي او هغه بین المللي تړونونه او یا پروتوکولونه چې په دې اړه تصویب شوي دي باید پلي شي.

**د اوزون پوړ ساتنې نړیوالې ورځې د نمانځنې شعارونه**

په نړیواله کچه دا ورځ هر کال په ډول ډول شعارونو سره نمانځل کېږي؛ چې څو بېلګې یې په لاندې ډول سره یادې شوې دي.

1. ۲۰۱۹ م کال شعار ( ۳۲ کاله د بنه والي په لور ) .
2. ۲۰۱۸ م کال شعار ( ښخوالي ته دوام ورکړئ ).
3. ۲۰۱۷م کال شعار( د لمر لاندې د ټول ژوندانه ساتنه ).
4. ۲۰۱۶ م کال شعار ( اوزون او اقلیم د نړۍ د یووالي له امله بیا رغول شوی ).
5. ۲۰۱۵ م کال شعار(دېرش کاله د اوزون بیا رغونه ).
6. ۲۰۱۴ م کال شعار(د اوزون د پوړ ساتنه پرمخ ځي ).
7. ۲۰۱۳م کال شعار( په خپله راتلونکې کې صحي فضا غواړو ).
8. ۲۰۱۲ م کال شعار(د راتلونکي نسل لپاره مونږ د فضا ساتنه کوو ).

### د اوزون جوړښت




د اوزون ګاز یو مالیکول د درې اتومه اوکسیجن O3 څخه په لاس راځي او په طبیعي شکل د ځمکې په اتوموسفیر یعنې فضا کې موجود دی. د اوزون جوړښت او پاینښت په طبیعي توګه په توازون کې دی.

### د ځمکې چاپیریال طبقې(پوړونه) او د اوزون موقعیت

د ځمکې د هوا قشر د شپږو پوړونو څخه تشکیل شوی دی، دوهم پوړ یې چې د ستراتوسفیر په نوم یادېږي د اوزون د پردې لرونکی دی.

دا د ځمکې یو حساس او ساتونکی پوړ دی چې د طبیعي ګاز د درې اتومه اکسیجن(O3 ) څخه منځ ته راځي. دا د ځمکې د کرې په اتوموسفیر کې د ۱۰ څخه تر ۵۰ کیلومترو په لوړوالي سره پروت دی؛ د ځمکې د کرې شاوخوا یې پوښلې ده چې د لمر د ماورای بنفش د تیزې انرژۍ لرونکی (UV-B)۹۸ ٪ فلتروي او دوی نه پرېږدي چې د ځمکې په کره کې د ژوندانه چاپیریال تهدید کړي، ځمکې ته مناسبه تودوخه ورکوي او د ځمکې د ګرموالي درجه نورماله ساتي.

### اتوموسفیري اوزون ته پاملرنه

د لومړي ځل لپاره په کال (۱۹۸۱م) کې د اوزون د پوښ(پوړ) د نازک والي نښې د جنوب په قطب (انتراکتیکا) کې ولیدل شوې.

دا نښې د پسرلي په موسم کې د ستراتو سفیر په طبقه کې ډېرې څرګندې شوې او د یو سوري په توګه چې د (اوزون سوري) په نامه یاد شو (چې اندازه یې د امریکا متحده ایالاتو د وچې په اندازه وه) ولیدل شوې.

د اوزون د طبقې د نازک والي نښې د شمال په قطب کې هم ولیدل شوې خو ډېرې څرګندې نه وې؛ په نورمال ډول د دې طبقې ضخامت په قطبینو کې ډېر زیات دی او د استوا په سیمه کې ډېر لږ دی.

د ژمي تېټه تودوخه د دې سبب کېږي چې قطبي وریځې جوړې شي او د دې پوړ د ضخامت د زیاتوالي سبب ګرځي. د دې پردې ضخامت د (3-5mm ) ملي مترو ته رسېږي. د اوزون د پوړ هغه برخه چې نازکه شوېده د هغې اندازه( 27 million sq.km ) کیلو متر مربع ته رسېږي.

**د اوزون د پوړ ( پوښ) د ساتنې اړین تدابیر**

1 . د اوزون پردې په ساتنه کې د ویانا کنوانسیون د مونتریال پروتوکول سپارښتنو ته باید جدي پاملرنه وشي او هغه عملي شي.

2 . د انسانانو له خوا باید په ککړونکو توکو کې د ښکیلتیا کچه راټیټه شي ځکه همدا ککړتیا د فضا د تراپوسفیر برخه کې د خراب اوزون د تولید سبب ګرځي.

3 . هغه کېمیاوي تعاملات چې په فضا کې د اوزون د پردې د تخریب لامل کېږي باید بند شي.

4 . د نوي کېدونکې انرژۍ تولید او پرمختیا ته وده ورکول تر څو د ګلخانه یې ګازاتو د خپرېدو مخنیوی وشي.

5 . په کورونو او بلند منزلو کې د شنې ټکنالوژۍ څخه ګټه اخیستنه.

6. د کلورو فلوروکاربن CFC او هایدروکلورو فلورو کاربن HCFCs د ګازاتو په تولید او استعمال کې باید کموالی راشي. چې د مونتریال پروتوکول څخه وروسته د دې ګازاتو بدیل د هایدرو فلورو کاربن(HFC) تعین شو چې دا د هغو کېمیاوي عناصرو د ګازاتو ترکیب دی چې د اوزون پوړ نه تخریبوي. په دې ګاز کې د اوزون د پوړ د تخریب پوتنشیل صفر دی، البته د ځمکې ګرمولو پوتنشیل یې یو څه لوړ دی.

7. میخانیک باید کمپریسور ته د ګاز اچولو او ورڅخه د ګاز ویستلو په وخت کې د احتیاط څخه کار واخلي تر څو ګاز فضا ته خوشې نه شي.

8. د اوزون پوړ د تخریبونکي موادو د پاره قوانین ترتیبول ترڅو د دې پوړ د تخریبونکو ګازاتو مصرف کنترول او په تدریجي توګه د منځه ولاړ شي.

9. عامو خلکو ته د اوزون د پردې د ساتنې په هکله معلومات رسول ترڅو د اوزون د پردې د ساتنې په ارزښت پوه شي.

**د اوزون د پوړ(پردې) د ساتنې نړیوال اقدامات**

- په (۱۹۷۰م) کال د لومړي ځل لپاره دې ناورین ته پاملرنه و شوه او د همدې کال څخه په دې اړوند نړیوالې هڅې شروع شوې.
- په(۱۹۸۵م) کې د اوزون د پوړ د ساتنې په اړه د ویانا کنوانسیون رامنځ ته شو.
- په (۱۹۸۷م) کال کې د کاناډا د مونتریال پروتوکول لاسلیک شو او( ۱۹۷) هېوادونو دا پروتو کول تصویب کړ.
- د مونتریال پروتوکول افغانستان په (۲۰۰۴م) کال کې امضا کړ؛ چې د (۲۰۱۰م) کال پورې د اوزون تخریبونکي ګازاتو په وارداتو او استعمال کې کمي راولي چې تر ډېره حده یې د اوزون د پوړ د تخریبونکو ګازاتو په وارداتو کې کموالی راوستی دی.

- ۳۲ کاله د ښه والي په لور: دا د مونټریال د پروتوکول په دوام سره د اوزون د پوړ د بیا رغولو یو بین المللی شعار دی؛ چې په دې پروتوکول کې شاملو هېوادونو ژمنه کړې ده چې د (۲۰۳۰م) کال پورې به د CFC او HCFC کلورو فلورو کاربن او هایدرو کلورو فلورو کاربن ګازونو مصرف ۱۰۰٪ را کموي، د ۳۲ کاله ښه والي په لور شعار کې اوس نړۍ د اوزون د پوړ د رغونې په طرف روانه ده.
- خوشبختانه افغانستان د (CFC) او (HCFC) ګازونو په کنټرول کې تر اوسه ۲۵٪ پیشرفت کړی دی.

**د کیګالي تعدیلات د HFCs راکمول**

د مونټریال تړون کې په (۲۰۱۲) میلادي کال کې نوي تغیرات رامنځ ته شول چې د مونټریال په تړون کې ټولو هېوادونو د افغانستان په شمول د کیګالی تړون هم لاسلیک کړی.

د ازون د عمل (Ozone action) تړون چې په دې کې ډېر مواد شامل دي.

موخه یې: د مونټریال په تړون کې د ځای پر ځای شوو کېمیاوي موادو د HFC هایدرو فلورو کاربن د مصرف کچه باید راکمه شي او فضا کې د دې ګازاتو د ذراتو د خپرېدو مخه ونیول شي او د دې هدف د لاس ته راوړلو لپاره باید د خصوصي سکتور ورتیا ته وده ورکړل شي.

هغه کېمیاوي مواد چې په خپل ترکیب کې فلورو کاربن لري د HFC ګازونو سربېره د ګلخانه یې (شین کوریزه) ځخه هم شمېرل کېږي؛ نو بدیل یې باید رامنځ ته شي.

د دې تړون ژمنه: تر کال (۲۰۵۰) میلادي پورې به د HFC کچه ۸۵٪ راکمه شي؛ چې دا به د ځمکې د حرارت درجه د سانتي ګراد ۰،۵ درجې سره په خپل نورمال حالت کې وساتي. HFC په کال (۱۹۹۰م) کې د CFC او HCFCد بدیل په توګه اعلان شوی و.

د کیګالي تړون کې چې د HFCs هایدروفلورو کاربن ګازاتو په کمولو موافقه وشوه نو د دې ګازاتو بدیل د HFOs هایدرو فلورو الفین ګاز په نظر کې نیول شوي دي، د دې ګاز د اوزون د ویجاړولو پوټنشیل صفر دی او همدارنګه د ځمکې د تودولو پوټنشیل یې هم ډېر کم دی.



**په چاپېريال د ماورايي بنفش(UV-B ) وړانګو اغېزې**

☐ د پوستکي سرطان: تقريباً هر کال ۶۶۰۰۰ خلک د پوستکي سرطان د ناروغۍ له امله خپل ژوند له لاسه ورکوي.

☐ د سترګو ناروغي: تر اوسه په نړۍ کې ۱۲ ميليونه خلک د دې ناروغۍ له امله ړانده شوي دي چې يوازې ۲۰٪ يې د لمر مضره( (UV-B ) وړانګو په وجه ړانده شوي دي.

☐ د انسان داخلي مدافعوي سيستم کمزوری کوي: په داخل د بدن کې د ويروس د بيا راژوندي کېدو لامل کېږي او همدا رنګه د سترګو ناروغۍ را منځ ته کوي او هم د انسان د بدن داخل کې انتاني ناروغيو ته زمينه برابروي او د بدن د پوستکي سرطانونه رامنځ ته کوي.

☐ حيواناتو او نباتاتو ته هم زيان اړوي: حيوانات که چېرې په دوامداره توګه د لمر ماورا بنفش يا د لمر د تيزې انرژۍ لرونکو وړانګو(UV-b ) ته مخامخ شي نو ډېر امکان لري چې د پوستکي د سرطان په ناروغۍ اخته شي په ځانګړې توګه په هغو ځايو کې چې ويښتان ونه لري او د نباتاتو او کرنيزو بوټو د ودې مخنيوی هم کوي.

☐ ۲۵٪ د کرنيزو محصولاتو حاصلات کموي لکه: غنم، وريجې ،کچالو او سويا او داسې نور.

☐ د هوا ککړوالی هم په خپل تناسب سره زياتېږي.

☐ د هوا تودوالی درجه کال په کال زياتوي.

**د اوبو داخل کې په ژويو يې اغېزې**

☐ په سمندر او بحرونو کې د غذايي موادو ځنځير زيانمن کېدل.

☐ د اوبو په داخل کې آبي ژوي زيانمنوي: د لمر(UV-B) وړانګې د ډېرې انرژي لرونکې دي کومې چې د سمندر په داخل او يا هم په ژورو اوبو کې داخلېږي او د ماهيانو هګۍ، بچې او ذوحياتين له منځه وړي.

☐ جنتيکي تغييرات د اوبو په ژونديو موجوداتو او د چينجيانو د لاروا و په داخلي سيستمونو کې منځ ته راوړي.

☐ ۲۵ فيصده د کرنيزو محصولاتو حاصل کموي لکه: غنم، وريجې ، کچالو او سويا.

☐ د هوا ککړوالی هم په خپل تناسب سره زياتوي.

☐ د ځمکې د کرې د هوا تودوالی کال په کال زياتېږي.

**د لمر د ماورای بنفش یا تیزې انرژۍ لرونکو وړانګ(UV-B)) پر وړاندې وقایوې تدابیر**

1. د لمر وړانګو ضد عینکې استعمال کړئ تر څو د خپلو سترګو د سلامتیا په خاطر د لمر د تیزې انرژۍ لرونکو وړانګو( ( UV-B ) د زیانونو مخه ونیسئ.

2. باید د لوی پیک لرنکو خولیو څخه استفاده وکړئ؛ تر څو د مخ او د غاړې پوستکې د لمر د مضره وړانګو د بدو اغېزو څخه وساتئ.

3. د دست کشو څخه په منظم ډول کار اخیستل تر څو د لاس پوستکی مو متضرر نه شي.

4. د دوبي موسم کې د ورځې په نیمایي برخه کې د ۱۱ څخه تر ۲ بجو پورې د لمر د تیزې انرژۍ لرونکې وړانګې UV-B په چټکۍ سره ځمکې ته رارسېږي، نو د ټولو ښه تدبیر دا دي چې په دې وخت کې لمر ته ډېر مخامخ نه شئ.





## د ځمکې نړیواله ورځ

**تاریخچه**

د ځمکې نړیواله ورځ د کلني جشن په توګه هر کال په ۲۲ د اپریل نمانځل کېږي. په دې ورځ د نړۍ په کچه ډول ډول پروګرامونه د دې لپاره نیول کېږي چې د دې ورځې نمانځل د چاپېریال په ساتنه کې مرسته وکړي او دا ورځ د لومړي ځل لپاره په کال (۱۹۷۰م) کې ونمانځل شوه.

په کال (۱۹۶۹م) کې د امریکا د متحده ایالاتو په سن فرانسیسکو ښار کې یو بین المللي کنفرانس نیول شوی وه، چې په هغه کې د (جان مک کانل) په نوم د صلحې یو فعال د سولې مفکوره او د ځمکې درناوي لپاره یوه ورځ وړاندیز کړه او بیا دا وړاندیز د ملګرو ملتونو د سکرتر جنرال په واسطه امضا شو. دا ورځ لومړی د سولې د مفکورې او ځمکې د درناوي په نوم په ۲۱ د مارچ (۱۹۷۰م) کې ونمانځل شوه. بیا د دې څخه یوه میاشت وروسته په ۲۲ د اپریل (۱۹۷۰م) کال د ملګرو ملتونو د یو سناتور (ګیلارد نیلسن) په واسطه د چاپېریال د پوهاوي د یوې ځانګړې ورځې په نوم ونمانځل شوه، چې په همدې مناسبت ۲۰ میلیونه خلک را جمع شول او د یو سوله ایز لاریون په ترڅ کې یې د چاپېریال د اصلاحاتو غوښتنه وکړه. د ځمکې د ورځې په پروګرامونو کې په اوسني وخت کې ۱۹۳ هېوادونه شامل دي؛ اوس دې ورځې یو نړیوال ارزښت پیدا کړی دی، په همدې بنسټ هرکال په ۲۲ د اپریل د نړۍ په ګوټ ګوټ کې نمانځنل کېږي.

**ځـمکه:**

ځکمه او خاوره: خاوره د ځمکې د کرې یو نازکه قشر دی؛ چې د چاپېریال د مهمې برخې څخه شمېرل کېږي، خاوره د عضوي موادو، منرالونو، هوا، اوبو او نورو وړو موجوداتو څخه تشکیل شوې ده چې په چاپېریال کې مهم رول لري. خاوره او ځمکه د ټولو ژوندیو موجوداتو او انسانانو لپاره یو حیاتي ارزښت لري الله ج ځمکه په ډول ډول شیانو غني کړې ده، کوم چې د ژوند لپاره ډېر اړین دي؛ ځمکه په کایناتو او شمسی نظام کې یوازېنۍ سیاره ده چې د هغې له پاسه ژوند ممکن دی. لکه چې الله(جل جلاله) دی خبرې ته په قرآن کریم کې اشاره کړې ده او فرمایلي یې دي: (وَالْأَرْضَ وَضَعَهَا لِلْأَنَامِ) یعنې ځمکه مو د ټولو مخلوقاتو د استفادې لپاره پیدا کړې. همدارنګه الله(جل جلاله) ځمکه د ډول ډول عناصرو په درلودلو سره د انسانانو او نورو ژوندیو موجوداتو د روزۍ د لاس ته راوړلو وسیله او سرچینه ګرځولې ده، الله(جل جلاله) خاورې ته دا وړتیا ورکړې ده چې د هغې څخه ډول ډول نباتات او غلې دانې راټوکېږي.

**د نمانځنې هدف/ موخه:**

په نړیواله کچه د دې ورځې نمانځلو ته ځانګړې پاملرنه کېږي؛ چې دا ورځ د ځمکې کرې ته د ورپېښو ستونزو څخه د ځان د پوهاوي او روزنې لپاره یو ښه فرصت برابروي، نو په همدې تړاو هر کال دا ورځ د یو ملیارد څخه زیات وګړي نمانځي، تر څو د خلکو مفکورې تغیر ومومي او په دولتي کچه د ځمکې او چاپیریال اړوند پالیسیو ته بدلون ورکړل شي؛ ځکه چې د ځمکې کره ډېره په چټکۍ سره د انساني کړونو په وجه د ډېرو زیاتو ویجاړیو سره مخ ده، همدا ډول د دې ویجاړیو د لاملونو په هکله خلکو ته عامه پوهاوی ورکول کېږي تر څو د دې ستونزو او ویجاړیو د مخنیوي لپاره موثر ګامونه واخیستل شي.

په نړۍ کې د ځمکې د شبکې او چاپیریال ساتنې د ټولنو له خوا د عامه پوهاوي ډول ډول پروګرامونه په لاره اچول کېږي؛ چې دا عامه پوهاوی د دې لامل شوی دی چې په انسانانو کې یې یو حرکت او خوځښت رامنځ ته کړی او حکومتونه یې دې ته اړ کړي دي تر څو د ځمکې د اقلیم او چاپیریال په اړه خپل قوانین او پالیسیانې اصلاح کړي او حتی په نړیواله کچه ډېرې اجتماعي ټولنې د ځمکې د ورځې نمانځلو ته په لوی درنښت قایلې دي.

د ځمکې ورځ د زده کړې لپاره یو ښه فرصت برابروي، تر څو د ځمکې او چاپیریال هغه ستونزې او ویجاړتیاوې چې په اوسني وخت کې ورسره زمونږ ټولنه لاس او ګریوان ده د حل لارې چارې ورته ولټول شي.

**د ځمکې د نمانځنې د ورځې نړیوال شعارونه:**

په نړیواله کچه دا ورځ هر کال په ډول ډول شعارونو سره نمانځل کېږي؛ چې څو بېلګې یې لاندې ډول دي.

- د (۲۰۱۸م) کال شعار یې وو (د پلاستیک د ککړتیا سره مبارزه)
- د (۲۰۱۷م) کال شعار یې وو (د چاپیریال او اقلیم سواد/ زده کړه)
- د (۲۰۱۲م) کال شعار یې وو (ونې د ځمکی لپاره)
- د (۲۰۱۵م) کال شعار یې وو (پاکه ځمکه شنه ځمکه)

**د ځمکې د نړیوالې ورځې د (۲۰۱۹م) کال شعار**

د ځمکې د ورځې د ۲۰۱۹ کال شعار دی: (د خپلو ډولو یا ژوند بنو ساتنه وکړئ)

د دې شعار موخه دا ده چې نن ورځ په نړۍ کې د حیواناتو(ژویو)، نباتاتو او الوتونکو ډولونه او ژوند بنې په ګړندۍ توګه د له منځه تللو سره مخامخ دي چې دا یوه جدي موضوع ده، باید ورته پاملرنه وشي او د عامو وګړو او حکومتي مسؤلینو توجه ورته راجلب شي، د دې ژوند بنو او ډولونو کمښدل او له منځه تلل د بشري فعالیتونو د ترسره کېدو سره مستقیم تړاو لري او د هغو په پایله کې دوی د دې خطر سره مخ دي د دې کړنو خطرونه او ویجاړۍ عبارت دي له: د اقلیم تغیر، د ځنګلونو وهل، د هستوګنځایونو زیان، قاچاق، ښکاریان، نه دوام لرونکې کرنه، د هوا ککړتیا، د ځمکې د کرې ګرمېدل او داسې نور مختلف لاملونه د ډولو(نوعو) د کمېدو او یا د منځه تللو سبب کېږي.

**د اسلام مقدس دین کې د ځمکې اهمیت او ارزښت**

د ځمکې د ارزښت په اړه قرآني لارښونې: لکه څنګه چې په ابتدا کې د انسان خلقت د خاورې او ځمکې څخه شوی دی؛ نو ځکه ځمکه د مور حیثیت لري. الله جل جلاله د انسان د خلقت په اړه په قرآنکریم کې په ځرګند ډول اشاره کړې ده چې فرمایلي یې دي: ( وَلَقَدْ خَلَقْنَا الإِنسَانَ مِن صَلْصَالٍ مِّنْ حَمَإٍ مَّسْنُونٍ) - د حجر سورت-۲۶ آیت.

(وَالْأَرْضَ مَدَدْنَاهَا وَأَلْقَيْنَا فِيهَا رَوَاسِيَ وَأَنبَتْنَا فِيهَا مِن كُلِّ زَوْجٍ بَهِيجٍ). د ق سورت – ۷ آیت.

ژباړه : ځمکه مو غوړولې ده او په هغې مو قوي غرونه ایښي دي او په هغې مو تازه بوټي او نباتات راټوکولي دي.

(تَبْصِرَةً وَذِكْرَىٰ لِكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيبٍ). د ق سورت -۸ آیت

ژباړه: دا پوهه او زده کړه/ پند دی د هر بنده لپاره چې هغه حق ته راګرځېدونکی دی.

(وَنَزَّلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً مُّبَارَكًا فَأَنبَتْنَا بِهِ جَنَّاتٍ وَحَبَّ الْحَصِيدِ). د ق سورت – ۹ آیت

ژباړه : او نازلوو مونږ د آسمان نه د برکت نه ډکې اوبه یعنې بارانونه او راټوکوو د دې اوبو په واسطه باغونه چې د دانو لرونکې ده او هم فصل یې ریبل کېږي.

(وَالنَّخْلَ بَاسِقَاتٍ لَّهَا طَلْعٌ نَّضِيدٌ).) د ق سورت – ۱۰ آیت

ژباړه: او خرماوې دې لوړې او په دوی کې دې وږې لاندې باندې.

(رِزْقًا لِّلْعِبَادِ ۖ وَأَحْيَيْنَا بِهِ بَلْدَةً مَّيْتًا ۚ كَذَٰلِكَ الْخُرُوجُ) د ق سورت -۱۱ آیت

ژباړه: دا د بنده ګانو لپاره رزق دی او همدارنګه را ژوندی کوو ځمکه مړه، یعنې وچه په اوبو سره او د ځمکې ځینې د مړو دوباره راوتل هم دا ډول دي.

( وَمَا مِن دَابَّةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا طَائِرٍ يَطِيرُ بِجَنَاحَيْهِ إِلَّا أُمَمٌ أَمْثَالُكُم مَّا فَرَّطْنَا فِي الْكِتَابِ مِن شَيْءٍ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِمْ يُحْشَرُونَ). د انعام سورت - ﴿۳۸﴾

ژباړه : په یقین سره چې هر خوځېدونکی( انسانان، حیوانات او ژوي ) د ځمکې په سر او مرغۍ چې په هوا کې په خپلو دوو وزرونو باندې الوزي یا پرواز کوي، دا ټول ستاسې د انسانانو په څېر پرګنې دي؛ مونږ په خپل کتاب (لوح محفوظ ) کې هېڅ شی نه دي پرېښې پس ټول به د الله جل جلاله په وړاندې د قیامت په ورځ حاضر شي.

(وَآيَةٌ لَّهُمُ الْأَرْضُ الْمَيْتَةُ أَحْيَيْنَاهَا وَأَخْرَجْنَا مِنْهَا حَبًّا فَمِنْهُ يَأْكُلُونَ) . سوره یس. (33) آیت

ژباړه : یو دلیل د مړو د بیا را ژوندي کېدو دا دی چې مونږ مړه ځمکه (وچه ځمکه) د رحمت د باران په واسطه را ژوندۍ کوو او د هغې څخه دانې راوباسو چې دا خواړه دي ستاسو لپاره.

وَجَعَلْنَا فِيهَا جَنَّاتٍ مِن نَّخِيلٍ وَأَعْنَابٍ وَفَجَّرْنَا فِيهَا مِنْ الْعُيُونِ. (یس سورت- آیت (34)

ژباړه : او ګرځولي مو دي په دې ځمکه کې د خرماوو او انګورو باغونه او په هغو کې مو جاري کړي دي د اوبو چینې.

(لِيَأْكُلُوا مِن ثَمَرِهِ وَمَا عَمِلَتْهُ أَيْدِيهِمْ أَفَلَا يَشْكُرُونَ ) د یس سورت -( 35 ) آیت

ژباړه : چې خلک د هغوی د باغونو د مېوو څخه خوراک وکړي او همدارنګه غذاوې چې د مېوو او نباتاتو څخه په لاس راځي او هغه چې دوی یې په خپلو لاسونو د کار په واسطه په لاس راوړي او دوی ورنه د خوراک لپاره استفاده کوي ، نو آیا دوی د دې نعمتونو شکر نه ادا کوي؟

(سُبْحَانَ الَّذِي خَلَقَ الْأَزْوَاجَ كُلَّهَا مِمَّا تُنبِتُ الْأَرْضُ وَمِنْ أَنفُسِهِمْ وَمِمَّا لَا يَعْلَمُونَ) یس سورت . ( 36 ) آیت

ژباړه : پاک دی آلله(ج) د هر قسم عیب څخه او پیدا کړي یې دي ټول شیان حیوانات او نباتات جوړه(نارینه او ښځینه) هغه چې د ځمکې نه را شنه کېږي یعنې نباتات او ستاسې د نفسونو څخه هم لکه انسانان او نور مخلوقات چې تاسې لا تر اوسه د هغوی په هکله معلومات نه لرئ.

**هغه چاپیریالي ستونزې چې د ډولونو ( ژویو، نباتاتو او الوتونکو) د له منځه تللو لامل شوي دي**

- د چاپیریال ککړتیا: ککړتیا په ډېرو بڼو کې راځي او په کوم ځای کې چې تاسو ژوند کوئ تاسو شاید د دې ځینې ډولونه لیدلي وي لکه: د ځمکې ککړتیا ، د هوا ککړتیا ، په کرنیزو محصولاتو او بوټو د کېمیاوي موادو( حشره وژونکو دواوو ) استعمال د برقي توکو د فاضلاتو ککړتیا چې دوی او دوی ته ورته نورو یې د چاپیریال ککړیتا رامنځ ته کړېده. د ککړتیا اصلي لامل چې ولې دا د کنټرول څخه وتلې ده؟ د نوو توکو کارولو لپاره زموږ غوښتنې او لیوالتیا ده او دا د دې لامل شوي چې زمونږ زاړه توکي په خطرناکه او غیر ضروري توګه وویستل شي اویا ضایع شي چې دا په اوسني وخت کې یوه نړیواله چاپیریالي ستونزه ده.

- د اقلیم تغیر: تاسې شاید دا محسوسه کړې وې چې هوا د معمول په پرتله ورځ تر بله کمېږي.

- وچکالي: له څرنګه چې مونږ پوهېږو چې زمونږ د ګران هېواد افغانستان په شمول د نړۍ ډېر هېوادونه د وچکالۍ د ستونزې سره لاس او ګریوان دي.

- د تودوخې زیاتوالی: د تودوخې درجه د انساني فعالیتونو په نتیجه کې مخ په زیاتیدو ده، دا جوته خبره ده چې د تودوخې د درجې ډېر کوچنی بدلون د ژوندیو موجوداتو د مړینې سبب کېږي؛ همدارنګه د

غذايي توکو د کمبود سبب کېږي، او سنی. خبرنې ښيي چې د ختيځ او لويديځ د قطبينو يخچالونه او د لوړو غرونو په سر د واورو لوی امبارونه اوس د تودوخې د درجې د لوړوالي له امله د ويلې کېدو په حال کې دي؛ چې په ځينو سيمو او ملکونو کې د بحرونو د اوبو د سطحې د لوړوالي سبب شوي دي چې خطرناک سيلابونو او طوفانونه رامنځ ته کوي او د ژويو د ژوندانه لپاره يې په پراخه توګه بې ثباتي را منځ ته کړې ده. په همدې توګه د تودوخې د درجې د لوړوالي يو لامل د اوزون د پوړ تخريب دی چې دا هم د انساني فعاليتونو پايله ده.

- د ځنګلونه له منځه وړل: انسانانو لا وار د مخه ٪۵۰ باراني او طبيعي ځنګلونه پرې کړي او يا يې له منځه وړي دي؛ سربېره پر دې چې د ونو پرېکول د اکسيجن د کمېدو سبب شوي دي، د وحشي ژويو او ژوند بڼو د بېځايه کېدو سبب هم ګرځېدلي دي او د ځنګلونو له منځه تلل د ځمکې د طبيعي ساتندويه قشر د منځه تللو يو نړيوال خبر داری هم ګڼل کېږي ځکه ځنګلونه په طبيعي توګه د ځمکې ساتنه کوي.

**په ژوند بڼو یا ژویو او الوتونکو د چاپيريالي ستونزو اغېزې**

1 د ساينس پوهانو د اټکل له مخې مونږ په عادي ډول سره اوس د ۱۰۰۰ څخه تر۱۰۰۰۰ پورې ډولونه د لاسه ورکوو.

2 د نړۍ په کچه ٪۴۰ الوتونکي د کمېدو او يا د ورکېدو په حال کې دي.

3 له کال (1970م) راهيسې په ځمکه کې د ځارويو ژوند ٪ 40 ته را کم شوېدی.

4 د نړۍ په ځينو ځايونو کې د حشراتو تعداد يا اندازه ٪ 75 ته راکمه شوېده.

5 د نړۍ په کچه هره ورځ له 8 مليون ټنو څخه زيات پلاستيکونه په سمندر کې اچول کېږي.

6 د تازه اوبو ايکوسيستمونو کې د ځارويو اندازه له (1970م) را هيسې ٪ 75 ته راکمه شوېده.

7 د 25% څخه زيات بحري ژوي او مرجانونه په اوبو کې ژوند کوي او د نړۍ مرجانونه شاوخوا څلورمه برخه يې د بيا رغونې څخه د مخه زيانمن شويدي.

8 تر دې وخته د نړۍ په کچه تقريباً نيمايي استوايي او معتدل ځنګلونه له لاسه وتلي دي؛ چې دا ټول د انساني کړنو له امله د منځه تللي دي او په پايله کې يې د انسانانو په روغتيا هم ډېرې بدې اغېزې کړي دي.

9 د نړۍ په کچه 2 مليونه خلک د کور دننه او بهر د ککړتيا له امله د وخت دمخه مړه کېږي.

10 د تودوخې د درجې لوړوالی په (2003) ميلادي کال کې يوازې په اروپا کې د 70000 انسانانو د مړينې لامل شوی وو.

11 يوازې د اقليم د بدلونه له امله به د خوړو بيه تر کال (2030م) پورې 50% لوړه شي.

12 هر کال 5000 خلک د ځښاک د ناپاکو اوبو د استعمال له امله د مرګ سره مخ کېږي.

13 د ځمکې 20% نفوس خپل 80% سرچينې مصرفوي.

14 يوازې د امريکا متحده ايالات په خپلو 5% پروګرامونو کې د ټولې نړۍ 20% سرچينې په مصرف رسوي.

**د ځمکې د چاپېريالي ستونزو د راکمولو لارې چارې**

☐ مونږ کولی شو د خپلو ورځني عادتونو په بدلولو سره د ککړتيا کچه راکمه کړو.

☐ موږ نشو کولی د کثافاتو توليد په بشپړ ډول ودروو، مګر هرڅوک کولی شي په دې برخه د پام وړ سهم واخلي.

☐ د مخکې نه په دې فکر کې شو چې د انرژۍ سپمول د طبيعي سرچينو د ځمکني تاوان د اړتيا په کمولو کې ډېره مرسته کوي.




راکمول: کوښښ وکړئ د ضايعاتو د اندازې کچه را کمه کړئ هغه چې تاسې يې توليدوئ ځکه چې دا د چاپيريال سره د مرستې کولو غوره لاره ده.

دوباره يې استعمال کړئ: د هغه لارو په اړه فکر وکړئ چې کولای شئ د پاتې شونو او يا وچو کثافاتو څخه بيا ځلي استفاده وکړئ.

بيا يې وکاروئ: هغه توکي چې تاسې يې غورځوئ نوي محصولات ورڅخه جوړ کړئ تر څو دا ستاسې سره په بيا بيا کارولو کې کمک وکړي.

**د ډولونو ( ژويو، نباتاتو او الوتونکو) د ستونزو د را کمولو لارې**

- که د نوعو يا ډولونو ستونزو ته د حل لاره پيدا کړو؛ نو بايد د ځنګلونو بيا رغونه او ساتنه وکړو ترڅو د دوی د ښځايه کېدو او مهاجرتونو مخه ونيسو او ورته د استوګنې ښه بستر برابر کړو.

- زمونږ د ځمکې دې سيارې ته الله جل جلاله په ميليونونه د ډول ډول ژونديو موجوداتو نسلونه په ډالۍ کې ورکړي دي؛ هغوی چې مونږ يې پېژنو او نور ډېر يې لاتر اوسه نه دي کشف شوي په مونږ انسانانو دا لازمه ده چې مونږ د دې الهي نعمت قدر وکړو او په ښه توګه د هغوی ساتنه وکړو، خو له بده مرغه انسانان د

طبیعت له انډول څخه خفه دي او په پایله کې یې نړۍ د دې ډولونو د ورکېدو تر ټولو لویې کچې سره مخ کړې ده، ځکه چې مونږ په زرګونو ډېنا سورونه لا پخوا له لاسه ورکړي دي.

- ټول ژوندي موجودات طبیعي ارزښت لري او هر یو یې د ژوند په دې پیچلي جال کې ځانګړی رول لوبوي، نو موږ باید د خطر سره مخ ژوند بڼو او ډولونو د ساتنې لپاره په ټولنیز ډول کار وکړو.

- مونږ باید خپل نوي نسل ته د ځمکې د کرې د دې طبیعي الهي نعمت د ساتنې، د څارویو د چاپیریال د ساتنې او کښت په اړوند زده کړه ورکړو؛ چې په دې اړه لاندې سپارښتنې خورا ډېرې مهمې دي.

- خپل ګاونډ پاک وساتئ، که چېرې تاسې په ځمکه کثافت ووینئ نو کثافت دانی ته یې واچوئ.

- د بیا کارونې بوتلونه او کاغذونه په کور او ښوونځي کې خوندي وساتئ او همدا ستاسې د کورنۍ سره مرسته کوي چې دوی یې بیا و کاروي.

- د چاپیریال په پاک ساتلو کې مرسته وکړئ؛ په سایکل سپورلاړ شئ او یا هم پلې لاړ شئ.

- زمونږ استوګنځی، زمونږ ځمکه ده او د هغې ساتنه زمونږ ایماني او وجداني مسؤلیت دی.

- اوبه خوندي کړئ؛ همدارنګه خپل چاپیریال پاک وساتئ.

## روز جهانی مبارزه با اقلیم

### تاریخچه

سازمان ملل متحد ۲۴ اکتوبر میلادی یا دوم عقرب هر سال را روز جهانی مبارزه با اقلیم و یا روز جهانی تغییرات اقلیمی تعیین نموده که همه ساله در کشور جهان از آن تجلیل صورت میگیرد. اولین بار در سال ۲۰۱۷ در ۱۸۲ کشور جهان با اجرای ۵۲۰۰ فعالیت های مانند برنامه های نهال شانی، برگزاری محافل اگاهی دهی و مشاعره، موسیقی، تدویر گفتمان ها و کنفرانس های علمی، برگذاری محافل مذهبی و غیره تحت شعار (کاهش گاز های گلخانه ای) از این روز تجلیل صورت گرفت.

اقلیم به شرایط آب و هوایی یک منطقه مانند درجه حرارت، رطوبت، فشار اتموسفیر، باد، بارندگی و سایر مشخصه های هوا شناسی در مدت زمانی نسبتاً طولانی گفته میشود. بشر از آغاز پیدایش برای رفع ضرورت خویش در پی دستیابی به آب و غذا بوده، و در هر جا که اقلیم مناسبی دریافت مینمودند، آن محل را برای اقامت شان انتخاب میکردند. بنا بر این تغییر اقلیم بدون شک طبعیت و حیات بشر را متاثر میسازد. باید تذکر نمایم که اقلیم همیشه در حال تغییر بوده و زمین قبلا تغییرات مختلف درجه حرارت را تجربه کرده است، اما آنچه امروز مشکل ساز شده است، تغییر اقلیم بسیار سریع است. به نظر دانشمندان وقتی تغییر اقلیم خیلی سریع باشد، زمین هم به سرعت در حال گرم شدن قرار میگیرد که در اینصورت موجودات زنده نمیتوانند با آن سازگاری نموده و در نتیجه حیات شان به خطر افتاده و از بین میروند.

بنا بر این موضوع تغییر اقلیم و به خصوص بلند رفتن درجه جرارت زمین از جمله معضلات عمده محیط زیستی بشمار میرود که در دو دهه اخیر توجه بسیاری از مجالس علمی و سیاسی جهان را به خود جلب نموده است. به نظر دانشمندان این پدیده حیات بشر را در معرض خطر قرار داده و در سال های اخیر خسارات جبران ناپذیری را در برخی از کشور های جهان وارد ساخته است. به اساس آخرین گزارش مجمع اقتصاد جهانی جنوری ۲۰۱۲ عدم مبارزه با تغییرات اقلیمی وضعیت جهان را به مخاطره قرار میدهد. بنا با نظرداشت نتایج ناگوار این پدیده و اهمیت توجه به پیامدهای آن، سازمان ملل متحد، ۲۴ اکتوبر یا دوم عقرب را به عنوان روز جهانی تغییر اقلیم و یا روز جهانی مبارزه با اقلیم نامگذازی نموده تا توجه مردم جهان را به این موضوع حیاتی و عواقب ناگوار آن جلب نماید.

باید علاوه نمود که موضوع مبارزه با اقلیم یکی از جمله اهداف اجندای جهانی انکشاف پایدار تعیین شده است. اهداف انکشاف پایداز عبارت از اجندای انکشاف جهان برای پا نزده سال آینده (۲۰۱۳ - ۲۰۳۰) مورد تائید ۱۹۳ کشور های عضو در اجلاس سپتامبر ۲۰۱۵ سازمان ملل متحد قرار گرفته است. اجندای انکشاف پایدار شامل (۱۷) هدف، (۱۲۹) مقصد و (۲۱۷) شاخص بوده که مبارزه با اقلیم واقدامات فوری برای

مبارزه با تغییر اقلیم و عوارض ناشی از آنرا هدف سیزدهم انکشاف پایدار تشکیل داده که مقاصد آن قرار ذیل تشریح شده است:

1- بلند بردن قابلیت استقامت پذیری وارتقای ظرفیت برای سازگاری در برابر اثرات تغییر اقلیم، مصیبت های طبیعی در همه کشورهای جهان

2- ادغام اقدامات مربوط تغییر اقلیم در پالیسی‌ها ، استراتیژی ها وبرنامه های ملی دولت های کشور های عضو.

3- بهبود نظام آموزشی و آگاهی دهی، ارتقای ظرفیت بشری و نهاد ها برای کاهش تغییرات اقلیمی، سازگاری، کاهش تاثیرات و هشدار های زود هنگام.

4- اجرای تعهد کشورهای انکشاف‌یافته عضو کنوانسیون تغییر اقلیم (چارچوب سازمان ملل متحد پیرامون تغییر اقلیم) (UNFCCC)، برای جمع آوری یکصد میلیارد دلار امریکایی تا سال (۲۰۲۰)، به منظور تأمین نیازمندی های کشورهای در حال انکشاف در زمینه اقدامات کاهش دهنده تغییر اقلیم و همچنان شفافیت در اجرا و فعال‌سازی همه‌جانبه صندوق اقلیم سبز از طریق سرمایه گذاری آن در اسرع وقت.

5- ترویج میکانیزم های ارتقای ظرفیت در زمینه برنامه‌ریزی و مدیریت مرتبط تغییرات اقلیمی در کشورهای کمتر انکشاف یافته وکشورهای کوچک جزیره‌ای در حال انکشاف با تمرکز بر گروه های محروم زنان، جوانان وجوامع محلی.

جمهوری اسلامی افغانستان منحیث کشور عضو سازمان ملل متحد ، متعهد به تطبیق اهداف انکشافی پایدار است. وزارت اقتصاد موظف گردیده تا از روند کاری، هماهنگی و تطبیق موثر اهداف انکشافی پایدار را نظارت و ارزیابی نماید و گزارشات منظم چگونگی تطبیق آنرا سالانه ترتیب و به شورای عالی وزراء و مجمع سازمان ملل متحد ارائه نماید.



## عوامل تغییر اقلیم

**۱. سوخت مواد فوسیلی (ذغال سنگ، نفت و گاز طبیعی)**

عامل اساسی تغییر اقلیم به نظر دانشمندان نیازمندی انسانها به انرژی بخصوص بعد از انقلاب صنعتی میباشد. و در تنیجه مصرف مواد سوخت فوسیلی مانند ذغال سنگ، پطرول و گاز طبیعی به طور گسترده بلند رفته است. فعالیتهای صنعتی از سال ۱۸۳۰ تاکنون سبب شده تا میزان انتشار گازهای گلخانه ای که مهمترین آن بخارات آب و گاز کاربن دای اکساید است در اتموسفیر یا جو زمین بالا برود. به اساس گزارش ها، قبل از انقلاب صنعتی در حدود ۲۵۰ سال قبل میزان کاربن دای اکساید در اتموسفیر زمین در حدود ۲۷۴ پی پی ام (حصه در میلیون) بود، اما بعد از انقلاب صنعتی مقدار کاربن دای اکساید افزایش یافته که فعلا به ۳۹۰ پی پی ام رسیده است یعنی غلظت تراکم کاربن دای اکساید در اتموسفیر زمین در حدود ۲ پی پی ام در سال میباشد. مجمع بین المللی تغییرات اقلیم (IPCC) در چهارمین گزارش سال ۲۰۰۷ خویش سقف ۴۵۰ پی پی ام را برای کاربن دای اکساید بخاطر کنترول درجه حرارت تعین کرده است.



شکل ۱ . تاثیرات تغییر اقلیم بالای زمین

همچنان «مجمع بین المللی تغییرات اقلیم» (IPCC) در تحقیقی که در سال ۲۰۱۳ انجام داد، اعلام کرد که تغییر درجه حرارت سطح زمین تا پایان قرن ۲۱ نسبت به سال (۱۸۵۰) تا یک و نیم درجه سانتیگراد افزایش می یابد. حد دو درجه سانتیگراد به عنوان مرز خطر در گرمایش جهانی تعیین شده است. دانشمندان میگویند حتی اگر بشر بتواند که همین حالا میزان گازهای گلخانه ای را به اندازه چشمگیری کاهش دهد، عوارض ناگوار آن تا ده ها حتی صد سال آینده نیز ادامه خواهد داشت.

**۲. تجمع انرژی انتشارات گاز های گلخانه ای**

اقلیم زمین نتیجه موازنه بین مقدار انرژی افتاب که به زمین میرسد، با مقاسیه مقدار انرژیکه از زمین در فضا انعکاس مینماید، میباشد. طبق این تعادل، شعاع آفتاب بعد از عبور از فضا به اتموسفیر زمین رسیده، قسمت بیشتر آن توسط زمین جذب شده که باعث گرم شدن زمین میگردد، که این امر سبب انعکاس امواج گرم از زمین به فضا میشود. بررسی‌ها نشان داده که زمین پس از گرم شدن، انرژی یا شعاع را که از خود منعکس میسازد بخشی آن از اتموسفیر عبور کرده، قسمت دیگر آن بوسیله گازهای گلخانه‌ای جذب و مجددا به سطح زمین فرستاده می‌شود که در نتجه گرمایش زمین یا گرمایش جهانی را بوجود آورده است.

شش گاز مهم گلخانه‌ای در سند پروتوکول منتریال از آن نام گرفته شده است که عبارت اند از: کاربن دای اکساید ($OC_2$)، میتان ($CH_4$)، نایترس اکساید ($N_2O$)، هایدرو فلورو کاربن (HFCs)، پرفلوروکاربن (HFCs)، سلفر هیکسافلوراید ($FS_6$) میباشند. در فهرست موجود گاز های گلخانه ای در افغانستان بر علاوه چهار گاز فوق - کاربن دای اکساید، میتان، نایترس اکساید، فلورو کاربن - یک تعداد گاز های دیگر مانند گاز کاربن مونو اکساید (CO)، سایر اکساید های نایتروجن (xON)، ترکیبات سبک عضوی غیر میتان (NMVOCs)، سلفر دای اکساید ($SO_2$) هم شامل است. انتشارات خالص مجموعی گاز های گلخانه ای افغانستان در سال ۲۰۱۳ که در دومین گزارش تغییر اقلیم افغانستان ۲۰۱۷ راپور داده شد عبارت اند از (۳۳.۹ فیصد) کاربن دای اکساید، (۳۱ فیصد) میتان، (۳۵.۱ فیصد) نایتروجن اکساید تخمین شده است. بزرگترین سهم را در انتشارات گار های گلخانه ای در قدم نخست سکتور زراعت بدوش داشته یعنی ۳.۷۴ فیصد تمام انتشارات را تشکیل داده که به تعقیب آن استفاده از زمین و احداث جنگل ۸.۱۸ فیصد و تولید انرژی ۲.۱۲ فیصد ذکر شده است. پروسس های صنعتی و زباله ها هر یک به اندازه (۳.۰) فیصد از تمام گاز های کلخانه ای را احتوا میکند.



شکل ۲ - پیش بینی وضعیت کره زمین در سال ۱۳۵۷ و ۱۴۰۵

در طی ۲۰۰ سال گذشته، بخصوص در ۵۰ سال اخیر، انتشار گازهای گلخانه‌ای به شدت افزایش یافته است. بطور مثال در حال حاضر مقدار گازهای کاربن دای اکساید و میتان به ترتیب سی و یکصد و پنجاه فیصد نسبت به دوران قبل از انقلاب صنعتی، بلند رفته است. در این میان کاربن دای اکساید که از سوختن مواد فسیلی بوجود آمده، از جمله گاز های است که توسط فعالیت انسانها تولید شده است. همچنان سایر فعالیت‌های بشری مانند استفاده بی‌رویه از جنگلات، قطع درختان جنگلی، تبدیل علفچر ها به رمین های رزاعتی، تبدیلی دهات به شهر ها چهره زمین را تغییر داده و باعث افزایش ضریب بازتابی زمین شده و در نتیجه مقداری بیشتری انرژی افتاب به فضا دوباره رها می‌شود.

## اثرات ناگوار تغییرات اقلیمی

**۱. زراعت ومصئونیت غذایی**

بلند رفتن درجه حرارت زمین باعث بارندگی بیشتر و نابهنگام میشود ، که خطر خشکسالی را در تابستان افزایش میدهد. در نتیجه احتمال وقوع طوفانها و سیلاب ها هم بیشتر میشود. البته وقوع و نوعیت خطرات در مناطق مختلف متفاوت است. از اینکه کشور های فقیر که امکانات کمتری برای مبارزه با این خطرات را دارند ، بیشتر اسیب پذیر اند. علاوتا این پدیده به تولید محصولات زراعتی آسیب وارد میکند. به اساس راپور ها گرما ، تغییر در بادهای موسمی و خاکهای خشک ، ممکن است حاصل تولید را در نواحی گرمسیر و نیمه‌گرمسیر به اندازه یک بر سوم حصه کاهش دهد . همچنان پیش‌بینی شده که با بلند رفتن درجه حرارت به میزان **۳.۵** درجه سانتیگراد در کشور کانادا ، تعداد خشکسالی‌ها را **۱۳** برابر افزایش خواهد داد. ضمنا افرایش بادها محصول گندم بهار میتواند از **۱۵** تا **۳۷** فیصد کاهش بدهد. تمامی این عوامل سکتور زراعت را صدمه زده که در نتیجه ناامنی غذایی باز میاورد.

**۲. تنوع حیات**

تغییر اقلیم منجر به تغییر شرایط مسکن حیوانات شده و از آن جا که حیات وحش نمیتواند به سرعت خود را با این تغییرات سازگاری دهد ، در نتیجه بسیاری حیوانات تلف شده و در حالت انقراض قرار میگیرید. تغییر اقلیم بصورت مستقیم وغیرمستقیم بالای زندگی موجودات زنده تاثیر داشته که می‌تواند به شدت ایکوسیستم یا نظام وابستگی زندگی آنها را دچار مشکل بسازد. با گرم‌تر شدن هوا ، پرندگان هنگام مهاجرت به عرض‌های شمالی‌تر رفته و در آنجا ساکن می‌شوند. به این ترتیب پرندگان مسافت بیشتری نسبت به گذشته در هنگام مهاجرت خود طی می‌کنند ، که میتواند باعث هلاکت انواع‌های ضعیف آنها شود. همچنان در اثر گرم شدن زمین زمان گل‌دهی و رشد انواع گیاهی تغییر میابد. پرندگان مختلف، حدود یک یا دو هفته زودتر تخم‌گذاری میکنند که این هم باعث میشود که سن پرندگان هنگام مهاجرت حدود یک یا دو هفته رياد باشد که در چنین شرایط هنگام بازگشت در طول سفر احتمال از بین رفتن پرندگان بیشتر میشود و نفوس آن کمتر شود. پس باید به یاد داشته باشیم که تاثیرات تغییر اقلیم صرف متوجه انسان‌ها نبوده بلکه سایر موجودات را هم متأثر میسازد.

**۳. صحت و سلامت انسان ها:**

تغییر اقلیم زمینه تکثیر پشه ملاریا به نسبت موجودیت آب گرم نظر به هوای معتدل بیشتر شده که شیوع تب ملاریا را افزایش میدهد. علاوتا شیوع سایر بیماری ها مانند تب زرد در محیط گرم بیشتر میگردد. از سوی دیگر ، در هوای گرم سیستم گردش خون برای سرد نگهداشتن درجه حرارت بدن فعالیت بیشتری داشته و این امر برای افرادی که ناراحتی قلبی دارند ، مشکلات بار میاورد . به اساس سازمان جهانی صحت با افزایش ملاریا ، بیماریهای مربوط به آب غیر صحی وسوء تغذیه ناشی از بلند رفتن حرارت جان بسیاری از مردم جهان به خطر می اندازد.

### ۴. بلند رفتن سطح آب دریاها، اقیانوس‌ها و نواحی ساحلی

بر اساس پیش بینی سازمانهای جهانی در صد سال آینده، سطح آب دریاها بین ۳۰ سانتي‌متر تا یک نیم متر افزایش خواهد یافت که در نتیجه سبب از بین رفتن یا خالی شدن بعضی از جزایر، پیشروی آب در نواحی ساحلی میشود. اثرات جانبی بلند رفتن سطح آب دریاها و اقیانوس ها، مناطق ساحلی بشمول صنایع ساحلی از قبیل ماهی‌گیری، زراعت و مناطق توریستی آن زیر آب میشوند. همچنان بسیاری از مساکن طبیعی حیوانات و زمین های زراعتی اطراف دریاها آسیب خواهند دید. افزایش درجه حرارت سبب شده که دسترسی به آب شیرین هم دشوارتر شود زیرا به علت بالا آمدن سطح آب دریا و اقیانوس ها، آب شور به منابع آب شیرین ساحلی نفوذ کرده و باعث تغییر کیفیت آن میشود.

### ۵. کیفیت آب

تغییر اقلیم، موجب کاهش بارندگی برف در زمستان شده که بالای جریان آب دریا ها تأثیر میگذارد، که در نتیجه تمامی فعالیت‌های مربوط آب را تحت تاثیر قرار میدهد. در حقیقت گرم شدن زمین بر کیفیت و کمیت آب تاثیر داشته که در نتیجه مصرف تصفیه آب را افزایش میدهد. از سوی دیگر، در اثر بالا رفتن درجه حرارت، میزان تبخیر در دریا ها و اقیانوس‌ها نیز بلند میرود. براساس تحقیقات انجام شده با بلند رفتن درجه حرارت هوا بین ۲ تا ۴ درجه سانتیگراد، میزان تبخیر سالانه ۴ تا ۱۲ فیصد افزایش مییابد. کاهش ذخایر آب، بر زندگی مردم، وضیعت زراعت و محیط زیست فشار وارد ساخته است.

باید علاوه نموده که هرقدر میزان کاربن‌دای‌اکساید اتموسفیر بیشتر شود، جذب آن در اقیانوس ها بلند شده، کیفیت آب اسیدی تر میشود، که بدین ترتیب زندگی موجودات بحری را در معرض خطر قرار میدهد. همچنان تبخیر سطحی ناشی از گرم شدن زمین، سبب خشک شدن رودخانه ها و پایین آمدن کیفیت آب میشود. این مسئله به خصوص در مناطق کم آب مثل مناطق صحرایی و نیمه صحرایی زیاد تر اتفاق میافتد. علاوه بر این، افزایش نمک ها در آبهای شیرین بر اثر تبخیر باعث خرابی کیفیت آب میشود. هم اکنون ۱.۷ میلیارد نفر در کشورهایی زندگی می‌کنند که از نظر منابع آبی در مشکلات بسر می برند وانتظار میرود این تعداد تا سال (۲۰۲۵) به پنج میلیارد نفر برسد که در تنیجه تعدادی کثیری مردم را تحت تأثیر قرار خواهد داد

### ٦. تغییرات اقلیم منطقه ای

تغییر مطالعات نشان داده که زیادترین افزایش درجه حررات در زمستان، در عرض البلد های نیم کره شمالی اتفاق خواهد داد که به این ترتیب تغییرات منطقوی در این نواخی میتواند دو تا دونیم برابر سریعتر و زیادتر از میزان تعین شده سالانه جهانی باشد. تغییر در جهت وزش باد، میزان بارندگی و همچنین مصیبت های طبیعی مانند طوفان، گردباد و سیل از نتایج مستقیم تغییر اقلیم است. افزایش بازندگی در برخی مناطق سبب افزایش حجم سیلاب‌ها می‌شود. انتظار می‌رود تغییر اقلیم منجر به افزایش بارندگی‌های شدید و ناگهانی شود که علاوه بر سیل، ریزش کوه، فسایش و فرسایش خاک را نیز به همراه خواهد داشت.

## مقابله با اثرات اقلیمی

موجودیت خطرات ناشی از بلند رفتن درجه حرارت بسیاری از نهادهای بین المللی و کشورها را به فکر چاره جویی انداخته است . به عنوان مثال "بان کي مون " منشی سازمان ملل متحد در کنفرانس جهانی تغییر اقلیم سال ۲۰۱۵ که در کشور بولیویا برگزارشده بود ، ضمن ابراز نگرانی از تغییرات اقلیمی در جهان گفت که جهان باید برای یافتن راه حل بخاطر مقابله با اثرات و خطرات تغییرات اقلیمی عجله کند چرا که زمستان ها گرم و خشکسالی ها بیشتر گردیده و درجه حرارت سطح زمین نیز غیرقابل‌تحمل می‌شود ؛ این تغییرات اقلیمی به تمام جهان هشدار داده که باید بصورت جدی جهت کاهش دهی اقدامات فوری انجام دهند.

وی همچنان با تاکید بر اهمیت موضوع در اجلاس تغییر اقلیم ماه نوامبر سال ۲۰۱۵ میلادی یا ۱۳۹۴ هجری شمسی در شهر پاریس ابراز داشت که کشورهای صنعتی عضو گروه بیست (G20 ) مسئول انتشار بیش از سه بر چهارم حصه از گازهای گلخانه ای در جهان هستند و اکنون که بصورت اوسط درجه حرارت زمین تا یک و نیم درجه بلند رقته است. باید برای جلوگیری از رسیدن این افزایش به ۲ درجه سانتیگراید ، اقدامات فوری لازم است. برای این منظور کشورهای صنعتی جهان برای سرمایه‌گذاری‌های محیط زیستی و جلوگیری از گرمایش زمین، باید صد میلیارد دلار برای کشورهای درحال انکشاف کمک نمایند. وی تاکید کرد که کشورهای انکشاف یافته همچنان مسئول کمک به رشد کشورهای کمتر انکشاف یافته میباشند ، وی در حال حاضر توجه کشورها را به سرمایه گذاری روی انرژی های پاک و قابل تجدید خواستار شد.

بر اساس آخرین گزارش مجمع اقتصاد جهانی در جنوری ۲۰۱۲ عدم مقابله با تغییرات اقلیمی وضعیت جهان را در آینده به مخاطره قرار میدهد. نویسندگان این گزارش که بالغ بر هفت‌صدو پنجاه کارشناس از بخش های اقتصادی، پوهنتون های جهان، دولت و سازمان های غیر دولتی بودند ، اعلام کردند که هر گونه شکست در قسمت تلاش برای کاهش تغییر اقلیم میتواند خطر بزرگتری را نسبت به سلاح های کشتار جمعی و بحران آب در پی داشته باشد. بنا براین مقابله با مشکل تغییر اقلیم و گرمایش کره زمین موضوعی است که نمی توان از آن چشم پوشی نمایم زیرا پیش بینی میشود که اگر این نتایج و پیامدها بر اساس روند کنونی ادامه داشته باشد تا سال ۲۰۸۰ میلادی و مطابق به ۱۴۵۹ هجری شمسی میشود ممکن است نیمی از انواع نباتات و بیش از یک سوم نسلهای حیوانات موجود در سطح زمین ناپدید شده و نمونه ای از آنها باقی نماند. این یک واقعیت نگران کننده است که آینده بشریت را تهدید میکند.

اللهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَأَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقًا لَكُمْ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْفُلْكَ لِتَجْرِيَ فِي الْبَحْرِ بِأَمْرِهِ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْأَنْهَارَ ﴿۳۲﴾

ترجمه: خداوند (ج) هما ذاتی است که آسمانها و زمین را آفرید و از آسمان آبی نازل کرد و با آن میوه های مختلف را برای شما روزی (از زمین) بیرون آورد و کشتی را برای شما مسخر گدردانید تا بر صفحه دریا به فرمان حرکت کنند. و نهر ها (نیز) برای شما مسخر کرد.

سَخَّرَ لَكُمُ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ دَائِبَيْنِ وَسَخَّرَ لَكُمُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ ﴿۳۳﴾

ترجمه: وخورشید و مهتاب را - با برنامه منظمی عمل میکنند - به تسخیر شما درآورد و شب و روز را (نیز) مسخر شما ساخت.

آتَاكُمْ مِنْ كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَتَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا إِنَّ الْإِنْسَانَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ ﴿۳۴﴾

و از هر چیزی که از او خواستید به شما عطا کرد و اگر نعمت خدا را بشمارید، هزگز آنها را شمار کرد نمی توانید. به یقین انسان ستمگر ناسپاس است (۳۴)

## تغییر اقلیم در افغانستان

افغانستان یک کشور کوهستانی دارای اقلیم خشک و نیمه خشک قاره ای با زمستان های سرد و تابستان های گرم میباشد. به سبب تغییرات چشمگیر توپوگرافی اقلیم کشور از یک ساحه الی ساحه دیگر




تفاوت قابل ملاحظه دارد. فصل مرطوب معمولاً از زمستان الی اوایل بهار دوام میکند اما کشور در مجموع خشک میباشد که در دسته بندی اقلیم صحرایی و جلگه یی قرار میگیرد. بارش برف در کوه ها بطور اوسط از ماه اکتوبر (میزان) الی ماه اپریل (حمل) بوده که در ارتفاعات مختلف بارش برف بطور قابل ملاحظه فرق میکند اما در زمین های هموار و صحرایی جنوب غرب بارش برف خیلی کم است. درجه حرارت در میدان های وسیع جنوب کشور در فصول مختلف خیلی تفاوت میکند که درجه حرارت تابستان [جون، جولای، اگست) بصورت اوسط از ۳۳ درجه سانتي گرید تجاوز نمیکند و درجه حرارت زمستان (دسمبر، جنوری، فبروری) در حوالی ۱۰ درجه سانتي گرید میباشد. در تابستان اوسط درجه حرارت از ۱۵ درجه سانتي گرید تجاوز نمیکند و در زمستان در مناطق ارتفاع بلند پایین تر از صفر میباشد.

در زمین های پست بارندگی خیلی کم بوده اکثرا برف باری نیز متغییر است. مناطق شرقی کشور در حاشیه های سیستم مونسونی است که شبه قاره هند را متاثر میسازد. بخش های از ولایت شرقی به شمول کنر،

نورستان، لغمان و ننگرهار در فصل تابستان الی ۱۲۰۰ ملی متر بارندگی(تخمیناً پنج برابر اوسط در کل کشور) دارد. افغانستان در سال های گذشته در چنگال شدید تریت خشکسالی های تاریخی قرار داشته که خشکسالی بین سالهای ۱۹۹۸ و (۲۰۰۵/۲۰۰۶) طویلترین و شدید ترین خشکسالی در تاریخ اقلیم افغانستان ثبت گردیده است. طبق بخش کمک بشری عاجل اتحادیه اروپایی بر مبنای مشاهدات تاریخی در مجموع یک دوران ۱۵ ساله بطور منظم مراقبت میگردد که میتوان ۲-۳ سال وضیعت خشکسالی را توقع نمود. اما در سالهای اخیر یک گزارش نشان میدهد که این دوران خشکسالی بیشتر از ان تکرار خواهد شد که پیش بینی میشود.

**تغیرات اقلیم**

نظر به تحقیقات جهانی که صورت گرفته است درجه حرارت از سال ۱۹۲۰ بدین سو به صورت اوسط ۰،۶ درجه سانتي گريد افزایش یافته است که در هر دهه ۰،۲۹ درجه سانتي گريد افزایش را نشان میدهد و این افزایش درجه حرارت را میتوان در روزها و شب های نهایت گرم فصل گرما احساس کرد. همچنان تغییر در رژیم ریزش برف و باران نسبت به تغییر درجه حرارت رونما گردیده میزان بارنده گی از سال ۱۹۲۰ بدین سو در سراسر افغانستان کاهش یافته است (بطور اوسط ۲ فیصد در هر دهه) را نشان میدهد. در آینده نزدیک یک افزایش خفیف در بارندگی که در حدود ۱۰-۲۰ میلی متر پیش بینی گردیده است رخ خواهد داد. تغیرات ناچیز در بارنده گی های سالانه تا سال ۲۰۹۰ نشان دهنده انست که شرایط اقلیمی در اکثر مناطق افغانستان بطرف خشک شدن (میان ۱۰ - ۴۰ میلی متر) میگراید. علل عمده خشک شدن اقلیم کاهش میزان بارنده گی ها در فصل بهار قلمداد گردیده است. فصول زمستان مناطق جنوب کشور نیز به نسبت عدم بارندگی ها خشک پیش بینی گردیده است. پیش بینی بارندگی های سالانه یک کاهش متداوم را در میزان بارنده گی ها نشان میدهد.

مطالعات و مودل های موجود یک افزایش قابل ملاحظه را در درجه حرارت همه مناطق افغانستان نشان میدهد قرار پیشگویی ها درجه حرارت تا سال ۲۰۹۰ بین ۲ الی ۶،۲ درجه سانتي گريد افزایش خواهد یافت. تمام پیش بینی ها نشاندهنده ارتقا متداوم درجه حرارت در جریان روز و شب بوده که با مقایسه اقلیم کنونی یک محیط نهایت گرم یا سوزان را خصوصاً در فصل تابستان به بار خواهد آورد و. تا سال ۲۰۹۰ تحت هر سناریو صدور انرژی حرارتی یک افزایش در حدود ۱،۵ - ۲،۵ درجه سانتي گريد در اقلیم پیش بینی گردیده است. میزان افزایش بلقوه درجه حرارت اساساً تحت تاثیر سناریوهای صدور انرژی حرارتی قراردارد.



نظر به مطالعاتی که صورت گرفته است افغانستان در معرض خطرات جدید و فزاینده اقلیمی قرار خواهد گرفت. عمده ترین اثرات سوء ناشی از تغیرات اقلیمی در افغانسان عبارت اند:

- خشکسالی
- صحراگرایی یا مبدل شدن زمین های زراعتی به بیابان
- سیلاب ها ناشی از بارنده گی های نا بهنگام
- صعود عمومی درجه حرارت

چنانچه تاثیرات سیلاب ها ممکن در اثر ذوب شدن سریع برف در موسم بهار ناشی از بلند رفتن درجه حرارت و یکجا شدن با دریا ها تشدید گردیده و باعث تلفات جانی هزاران تن از هموطنان ما در ولایات مختلف و از بین رفتن منازل و تاثیرات منفی چون فرسایش، تخریب و عوارض زمین های زراعتی و خسارات مالی را بار آورده است که تقریباً همه ولایات افغانستان در معرض یک و یا چندین نوع حوادث طبیعی مانند سیلاب ها ، لغزیش زمین، خشکسالی، گرما و سرمای شدید قرار گرفته است.

**تاثیرات سکتوری تغییرات اقلیمی**

آسیب پذیر ترین سکتور ها از اثر تغییر اقلیم در افغانستان سکتور زراعت، سکتور آب و سکتور انرژی بوده، که ناشی از گرم شدن کره زمین و بلند رفتن درجه حرارت بوحود آمده است. در اثر خشک شدن و یا تبخیر زمین، کاهش منابع آبی رود خانه ها از منبع برف های ذوب شده، و کاهش بازنده گی های متداوم در فصل اساسی کشت و زراعت، پیامد های ناگوار را روی محصولات زراعتی کشور به بار آودره و میزان کاهش محصولات زراعتی ناشی از فقدان آب و کاهش مساحت زمین های زراعتی بازمانده از کشت بصورت موازی تشدید و ارتقا خواهد یافت. با دلایل فوق زرع نباتات که ضرورت به مقدار بیشتر آب دارد کمتر مورد علاقمندی زارعین قرار گرفته، و برعکس زرع نباتات مقاوم مانند خشخاش که ضرورت به مقدار بشتر اب ندارد بیشتر مورد توجه دهاقین قرارگرفته است. به طور تقریبی تعداد کسانیکه پیشه شان زراعت میباشد به ۱۲.۱ میلیون نفر میرسد در حالیکه تعداد کسانیکه در روستاها مصروف زراعت نمیباشند صرف به ۲.۵ میلیون نفرمیرسد ، در حالیکه سطح کیفیت سیستم موجود آبرسانی تقریباً به ۲۵ فیصد میرسد و این بیانگر آن است که مقدار زیاد آب ضایع میشود ، از سال ۱۹۷۸ (۱۳۵۷) بدین سو به طور اوسط ۳.۵ فیصد نزول در تولیدات سالانه زراعت دیده میشود و ۳۰ فیصد زمین های زراعتی و چراه گاها تبدیل به صحرا گردیده است.

متاسفانه صحراگرایی در بعضی ساحات افغانستان مانند فسمت های غیر قابل کشت، غربی و جنوبی رو به ازدیاد است، تاثیرات ناگوار جنگ و خشک سالی های اخیر در منابع طبیعی تاثیر منفی گذاشته و باعث گسترش صحراها گردیده است.

خشکسالی های کشور در سالهای (۱۳۴۰- ۱۳۴۲) و در سالهای (۱۳۴۵ – ۱۳۴۲) و (۱۳۴۹ – ۱۳۵۱) و در سالهای (۱۳۷۸) الی (۱۳۸۰ – ۱۳۸۱) بوقوع پیوسته است و امکان ۷۵ فیصد صحرایی شدن اراضی در کشور موجود است.

**اقدامات کاهش دهی تغییرات اقلیم**




جهت کاهش و سازگاری در مقابل اثرات تغییرات اقلیم بالای سکتور های مختلف اداره ملی حفاظت محیط زیست یک سلسله اقدامات را به همکاری متخصصین از ادارات دولتی و پوهنتون کابل انجام داده است در قدم نخست سکتور های آسیب پذیر و نقاط اسیب پذیر را در سراسر کشور مطالعه و از جمله ۵۱ گزینه ۱۱ گزینه را انتخاب نموده اند، که شامل از دست دادن حیات، صحت انسان، مصونیت غذایی، زراعت، موجودیت و کیفیت دسترسی به آب، اثر بالای گروپ های اسیب پذیر، زیربنا های اساسی، مصارف پروژه تنوع حیات، تنظیم استفاده از جنگل داری میشود، همچنان در زمینه تدابیر ذیل را انجام داده است که عبارت اند از:

- تهیه پلان ملی عمل سازگاری
- ارسال پلان عمل سازگاری به ادارات ذیربط جهت تدابیر در مقابل اثرات تغییرات اقلیم
- آگاهی عامه در رابطه به تغییرات اقلیم و اثرات آن بالای جوامع بشری
- ارتقای ظرفیت کارمندان در مرکز و سایر ولایات کشور
- پشنهادات پروژه های عام المنفعه به سکرتریت تغییرات اقلیم
- ارایه طرح و رهنمود های محیط زیستی جهت سازگاری درمقابل اثرات احتمالی اقلیمی
- سروی ولسوالی های ولایت کابل و اقدام به اخذ تدابیر تخنیکی در زمینه

اجمل شیرزی، ریس موسسه نسلهای آینده افغانستان
بخاطر تجلیل از روز جهانی مبارزه با اقلیم

# Introduction to

# World Environmental Days

(Awareness Guidance for the Members of  Local Environmental Committees)=



چاپېریال ساتنه زمونږ شا او خوا د هغو ټولو ژوندیو او غیر ژوندیو موجوداتو په اړه بحث کوي چې
د انسانانو او نورو ژوندیو موجوداتو په ژوند په مستقیم یا غیر مستقیم ډول اغېزه لري

August 2020

**FutureGenerations Empowerment**
Empowering Communities to Shape Their Futures

House  - Ayub Khan Mina, Darul Aman Road
District - 7, Kabul, Afghanistan

**Sponsered by:**
**Small Grant Program,**
**Global Enviornmental Facilities (SGP-GEF,UNDP, Afghanistan**